PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

# اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامي افغانستان

شماره مسلسل « ٢٣٧ » سال هفتم شماره « ٣٩ » دوشنبه « ٢ » جدی ١٣٧٠ هـ ش مطابق « ١٧ » جمادی الاخر ١٤١٢ هـ ق ومطابق « 23 » دسمبر 1991 میلادی

# موقف وطرح مشترك تنظیمهاي حزب اسلامي افغانستان واتحاد اسلامي افغانستان

## درمورد فیصله، تاریخي ١٣٧٠/٩/١٢ هـ ش رهبران بعضي ازتنظیم ها دراسلام آباد

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمدلله والصلاة والسلام علي سیدنارسول الله وعلي آله وصحبه ومن بهدیه اهتدي ...و بعدا**

حضرت پیغمبر صلي الله علیه وسلم درپاسخ یك سوال فرموده است که : من قاتل لتکون کلمة الله هي العلیا فهوفي سبیل الله . کسیکه بخاطر برتري نام الله (ج) جهاد بکند ، جهاد او در راه خدا (ج) مقبول است .

جهاد مسلمانان مخلص وبادراك وفهمیده درطول تاریخ به همین مقصد وبخاطر تحقق همین آرمان براه افتیده وجهاد مردم مؤمن افغانستان هم عین مقصد وعین هدف را تعقیب نموده – ودر دوران جهاد مسلح سیزده ساله هرمجاهد همین هدف را بزبان رانده وتاحال نیز ورد زبانهاي مجاهدین است .

حال که مجاهدین به منزل پیروزي نزدیك شده میروند و قریب است که کیان کفر والحاد منهدم گردیده و عوض آن نظام ارجناد و والاي اسلام قایم گردد . دشمنان به یك رنگ ورنگ دیگري میخواهند که کاروان جهاد را از استقامت منزل مقصود بسوي دیگر تغیر وتوجیه نموده در آخرین مراحل پیروزي ضربه، برپیکرش وارد کنند .

لذا برهمه لازم است تا ازاحتیاط کامل کارگرفته هرقدمي که به رابطه، حل قضیه برمیدارند ، بیینند که پا از راه بیرون نگذارند – وباوجود مشکلات وفشارهاي مختلف ومتعدد برحق ثابت و استوار بمانند و حل مشکلات ونهایت آبرومندانه، قضیه را درچوکات اصول وضوابط اسلامي بیابند . روي همین دراك واحساس اینك به ارتباط حل مشکله، موجود وایجاد وحدت ویکپارچگي وهمبستگي خوبتروسالمتر بین مجاهدین ونتیجه گیري وثمرچیني معقول ازجهاد وقرباني ملت مؤمن خویش نظرخود رابه ارتباط فیصله، که رهبران بعضي ازتنظیم ها در اسلام آباد بتاریخ ١٣٧٠/٩/١٢ هـ ش به عمل آورده اند بشرح ذیل بیان نموده وطرح خودرا نیز درآخرآن پیش مي کنیم

**١– درماده، اول فیصله آمده است: ( تشکیل شوراي قیادي که رهبران تنظیم ها درآن عضویت دارند ویك تن ازمیان شان بحیث رئیس برگزیده میشود ) .**

الف : این ماده خود پیغام استمرار اختلاف رابه مجاهدین ودوستان جهاد میرساند . چه برادران تاحال هم بیك قائد واحد متفق نشده اند ، که شوراي قیادي رابه میان مي آوردند . این کار باوجود اینکه شرعاً مورد ملاحظه است، این اشتباه راهم میبخشد که قدرت وموقف یگانه موضوع مهم و اساسي اختلاف بوده و چنان گرهي محکمي است که این فیصله هم آنرا بازنکرده است .

ب : درینجا واضح نگردیده که چند تنظیم است ، وایا رهبران همه تنظیم ها دران شرکت دارند و یا چطور ؟

ج : از عبارت چنین برمیآید که شوراي قیادي منحصر به رهبران تنظیم هاي جهادي نیست زیرا که درماده چنین آمده : (رهبران تنظیم ها درآن عضویت دارند) پس درشوري کساني دیگري نیز خواهد بود ، نمي دانیم که آنها چه کساني میباشند .

د : برادران ما درمورد تعیین ونصب خود بحیث اعضاي شوراي قیادي ، بملت ومردم مسلمان حق نمیدهند ، لاکن درمورد هرامردیگري میگویند تاملت فیصله نکند ماقبول نداریم .

اگر میگویند که ملت برما اعتماد دارد ، پس این رانیز باید بدانند که اعتماد ملت وقتي وروشن میگردد ومطرح میشود که مابریدیگر اعتماد نموده وبراي یك دوره، موقت بریکي ازبرادران مجاهد خود اعتماد نموده واورا به صفت قائد خود براي ملت ومردم خود معرفي نمائیم .

**٢– در ماده، دوم گفته شده : (تشکیل حکومت موقت اسلامي انتقالي که رهبران تنظیم ها درآن اشتراك نمي کنند ) .**

الف : درین ماده تصریح نشده که این حکومت راکي تشکیل میدهد ؟

ب : این حکومت ازکدام عناصر ترکیب میگردد ، ازظاهر عبارت چنین معلوم میگردد که بجز از رهبران تنظیم ها که درآن اشتراك ندارند ، راه بروي همه، مردم دیگر بازاست . ازخلال تبصره ها واظهارات بعضي ازمامورین بلند رتبه، بعضي

کشورهاي دوست معلوم میگردد که این حکومت همان حکومت براديبس است .

**٣– درماده، سوم چنین آمده که : ( توسعه، کمیسیون چهل ویکنفري فعلي درحدود شصت الي یکصد نفر )**

الف : این کمیسیون خود محل نزاع بود – اگر کسي خواسته باشد میان مجاهدین وحدت ویکپارچگي را بیآورد ، طرحهاي جدید خودرا برامور متنازع فیها مبتني نمیسازد .

ب : این کمیسیون راکي توسعه میدهد ؟

ج : درمورد مدت کار وصلاحیت هاي این کمیسیون هیچ چیز ذکر نشده .

د : حیثیت این کمیسیون درجوار حکومت وشوراي قیادي چه خواهد بود ؟

هـ : اشخاص جدید چه کسان خواهند بود ؟ ازتبصره ها واظهاران چنین معلوم میگردد، که عده، ازکابل وعده، ازغرب نیز درآن اشتراك میورزند .

( پس آیاشوري هم براديبس ) ؟

و : معیارهاي پذیرفتن اعضاي کمیسیون کدام است .

**٤– درماده، چهارم چنین آمده : (درخلال یکسال انتخابات صورت میگیرد )**

الف : انتخابات عام وبي قید وضبط ازلحاظ شرعي تحت سوال قراردارد .

ب : طوریکه اززبان مشترك مسکو واظهارات مردم ذیعلاقه معلوم میگردداین انتخابات زیر نظر UN و OIC صورت میگیرد ، درحالیکه ملل متحد عقیده را بحیث عنصر ذیدخل درامور مردم نمي داند – پس درچنین انتخابات همه مرتدان وزندیقان با مسلمانان ومجاهدین یکسان شرکت خواهند ورزید ، وبدین ترتیب انتخابات فیصله

صفحه چهار

## زدو خورد شدید بین ملیشه هاي رشید دوستم وافراد کیاني درسمنگان ادامه دارد

گزارش رسیده از سمنگان حاکیست که برخوردهاي شدیدي که بین ملیشه هاي رشید دوستم وافراد تحت قومانده، پسر سید کیان ازجمعه، گذشته ١٣ دسمبر برسرتقسیم اموال غارت شده، مردم درشهرایبك مرکز ولایت سمنگان آغاز گردیده بهمان شدت تاکنون ادامه دارد .

بنابرگزارش درین برخورد ها افراد گروه هاي متخاصم از انواع سلاح هاي سبك و سنبگني دست داشته بشمول توپ وتانك علیه همدیگر استفاده کرده وگفته میشود بر اثر آن عده، زیادي از طرفین کشته وزخمي گردیده وخسارات بزرگ مالي نیز به هردو طرف وارد آمده است .

## په لوګر ولایت کښي دمجاهدینو بریالی عملیات

په پیښور کي دمجاهدینو یو جهادي خبر ځاي دلوګر له ولایت نه (میلیا) ته ریوټ ورکړ چي مجاهدینو ددسمبر په ١٢ او ١٣ شپه ددرندو وسلو څخه په استفادي سره ددغه ولایت ددشت بابوس دسیمي پر پوستو برید وکړ چي دهغه په ترڅ کي دکابل دکمونیست رژیم دقواؤ یو شمیر ځالي ویجاړي ، پنځه عسکر اوملیشه مړه او یوشمیر نوریي ټپیان شویدي .

همدا راز مجاهدینو په دغه بریدکي

## دافغانستان داسلامي حزب اود افغانستان داسلامي اتحاد ګډ موقف اوطرحه

دافغانستان اسلامي حزب او دافغانستان اسلامی اتحاد په هغې غونډه کښې چي دجمعي په ورځ د ١٣٧٠ش کال دقوس په ٢٩ نیټه دافغانستان په داخل کښې جوړه شوي وه او په هغې کښې ددواړو تنظیمونو مشرانو ، داجرائیه شوراګانو غړو او یوشمیر علماؤ او قوماندانانو ګډون درلود خپل مشترك موقف او طرحه وړاندي کړه :

١ – دوي دهغه لس کسیز مجلس پرځاي چي په اسلام آباد کښې ناست او دافغانستان دسرنوشت په باب تصمیم نیسی داپریکړه وکړه چي فیر ژر دې لږ تر لږه پنځه سوه کسیزه شورئ چي په سلوکي پنځوس دجهاد له قوماندانانو څخه تشکیل شوي وي جوړه شي ترڅو چي دافغانستان دراتلونکی په هکله فیصله وکړي .

٢ – دواړو تنظیمونو پریکړه وکړه چي په هیواد کښې دننه جهادی عملیات دې تربوي قوماندي لاندې تریخوا لازیات منظم ، ګرم او ګړندي ګړاي شي .

٣ – دوي فیصله وکړه چي موږ په افغانستان کښې دپردیو په خوښه او فشار جوړشوي حکومتونه نه منو .

٤ – ترڅو پورې چي دمجاهدینو په لاس سوچه اسلامي حکومت نه وي جوړ شوی موږ به خپل مسلح جهاد ته ادامه ورکوو .

دوي باورښکاره کړ چي ټول بادرکه علماء او مخلص قوماندانان او مجاهدین به دجهاد داصالت دساتني او دهغه داهدافو دسلامتیا په خاطر ددي پریکړو ملاتړ کوي اودجهاد دنتایجو اوثمرو دلاس ته راوړلو په منظور به خپل غړ ، لاس اوزړه له موږ سره یوکوي .

موږ له خپل دغه موقف نه کوم خاص مادی مطلب نلرو بلکې ټوله هڅه مو دالله جلت عظمته دنوم داوچتیدو او دهغه درضا حاصلولو په خاطر ده . موږ دالله په دین غیرت کړی دی اوپه دې یقین لرو چي الله به مو په دې میدان کښې یوازې نه پریږدي .

په پای کښې دفیصلو دتعقیب اوتنفیذ له پاره په دې غونډه کښې بیلا بیل کمیسیونونه وټاکل شول .

## مجاهدینو دهرات په ولایت کي دکابل دکمونیست رژیم دیوی قرارګاه په فتح کولوسره درژیم ٤٣ تنه عسکر ، صاحبمنصبان اوملیشه وژلي دي

د هرات له ولایت څخه په رارسیدلو ریپوټونو کي ویل شویدي چي مجاهدینو د دسمبر په ١٤ نیټه په دغه ولایت کي د هرات – اسلام قلعه په لویه لاره د «شمالي سمبول» په سیمه کي د کابل رژیم د قواؤ پرېوي [illegible] ارګاه باندې برید وکړ چي دهغي [illegible] نتیجه کي د رژیم نوموړي قرارګاه فتح ، ٣٥ تنه عسکر ، صاحب منصبان اوملیشه مړه اوټپیان شوي ، اوهم د رژیم قواؤته درانده تاوانونه وربه برخه شویدي .

ریوټ زیاتوي چي مجاهدینو پدي جګړه کي د رژیم له قواؤنه یومیل هاوان ، یومیل وسط راکټ ، څلور میله پیکا ماشیندار ، ٣٥ میله

## کماندوهاي رژیم صهیونیستي هشت تن ازاتباع لبناني راربودند

کماندوهاي رژیم صهیونیستي طي یك عملیات آدم ربایي هشت تن از اتباع لبناني را ربوده وبه منطقه اي نامعلومي منتقل کرده اند .

بگزارش خبرگزاري رویتر عملیات آدم ربایي صهیونیستها درجاده ناحیه جمشید درلبنان بوقوع پیوست ویك منبع رژیم صهیونیستي بااعتراف به عملیات آدم ربایي کماندوهاي اسرائیلي ادعاکرد که تنها سه لبناني ربوده شده اند . بنابه این گزارش صهیونیستها پس ازاین عملیات بمبي شبیه فانوس درمنطقه تعبیه کرد . این بمب درحین انتقال به شهرك جمشید منفجرشد که به اثرآن سه نفرشهید و پنج نفر دیگر که همه ازاعضاي یك خانواده بودند زخمي شدند .

## مذاکرات بعضي ازرهبران مجاهدین بامعاون رئیس جمهور روسیه بدون کدام نتیجه به پایان رسید

مذاکرات بعضي از رهبران مجاهدین بامعاون رئیس جمهورروسیه الکزاندر روتسکوي بدون کدام نتیجه به پایان رسید .

درنخستین دور مذاکرات پروفیسور صبغت الله مجددي ، انجنیر حکمتیار و پروفیسور برهان الدین رباني به نوبه، خود بامعاون رئیس جمهور روسیه دیدار گفتگوهاي داشتند وروابط بامسئله افغانستان ورهائی اسراي جنگي روسي تبادل نظر نمودند .

پروفیسور مجددي طي مصاحبه اي با افغان نیوز ایجنسي گفت که وي دریك فضاي دوستي دیدار وگفتگو کرده ویك اسیر جنگي را به اساس حسن نیت رهاکرد استاد رباني هم دیدار خود را مفید خوانده وبه روتسکوي گفت که مجاهدین به موافقتنامه ماسکوبه دیده قدر مینگیرند .

استاد رباني افزود که وي به اساس تعهد قبلي یك گروه از اسراي جنگي روسي را رها میکند .

### فدراسیون روسیه کنترول مؤسسه اطلاعات خارجي شوروي را به عهده گرفت

مسکو – ٣٠ قوس

بوریس ایلتسین براي بدست آوردن سهم بیشتري ازقدرت کنترول مؤسسه اطلاعات خارجي شوروي را به عهده گرفت .

بگزارش انترفاکس این مؤسسه چند ماه قبل تأسیس شده وبنابه دستور ایلتسین تمام اموال ، ساختمان ها ، تجهیزات ، بانکهاي اطلاعات واسناد سرویس اطلاعات اتحادیه، مشترك المنافع باید ظرف یکماه به مؤسسه اطلاعات خارجي روسیه تحویل داده شود . بوریس ایلتسین همچنین روز پنجشنبه به دولت جمهوري روسیه دستور داد که کنترول وزارتخانه هاي خارجه ودولت ، پولیس مخفي داخلي و کرملین رابدست گیرد .

## درنتیجه انتخابات،شوراى عامله « اجرائیه » تنظیم دانشجویان مسلمان مجدداً تعین گردید

روز پنجشنبه ٢٨ قوس سال ١٣٧٠ هـ.ش به ساعت ٢ بجه بعد ازظهر محفل پرشکوهي بخاطر تعیین مسئولین سال جدید تنظیم دانشجویان مسلمان اتحاد اسلامي درمقرمهمانخانه سیاسي اتحاد اسلامي واقع هجرت کلي دایرگردید .

محفل مذکورکه تحت إشراف کمیسیون تنظیم وتربیت دایرگردیده وبیش از ١٠٠ تن ازمحصلین پوهنتون دعوت وجهاد ، جامعه اسلامی مدینه منوره ، جامعه اسلامی بین المللی اسلام آباد ، ...... حربی پوهنتون اتحاد اسلامی، اکادیمی حیات اباد و ومتعلمین معاهد ، لیسه ها مدارس محیط هجرت و نمایندگان حوزه های عمومی تنظیم دانشجویان مسلمان واعضای محترم شورای های مرکزی وعامله اسبق تنظیم دانشجویان مسلمان اشتراك ورزیده بودند محفل با تلاوت چند ایات متبرکه ازقرآن مجید آغاز یافت ، و نخست برادر محترم عزت الله «مدقق» مسئول اسبق دانشجویان مسلمان گزارش تلاش وفعالیت یك سال گذشته تنظیم دانشجویان مسلمان را طی بیست ماده برای حضار محفل تقدیم داشت وازفعالیتهای خستگی ناپذیر اعضا ومسئولین اسبق دانشجویان مسلمان درساحه، تنظیم وتربیت دانشجویان اظهارامتنان نمود سپس به نمایندگی از اعضای شورای اسبق عامله استعفی خود واعضای شورای مذکور را

## دافغانستان دقضیې په اړه دپاکستان دجماعت اسلامي پریکړه

د پاکستان د جماعت اسلامی مرکزي شورئ د خپلی دري ورځنی غونډې په ترڅ کښې چې د لیندی د میاشتې په ٢٩ نیټه د لاهور په منصوره کی پای ته ورسیده ——

د افغانستان د قضیی په اړه یو قرارداد منظور کړی چی دهغه په ترڅ کښې راغلی دی : د افغانستان جهاد چی اوس د کامیابی وروستی براؤته رسیدلی دی مجاهدینو سره له پخوانه د زیاتی مرستی ضرورت دی اوپاکستان چی تراوسه پوري دکوم سپیڅلي هدف دلاس ته راوړو لپاره د مجاهدینوملاتړ کړي ، قرباني یې ورکړي دي ، هغه هدف ته درسیدو پخاطر پاکستان ته پکاردي چي

## دنړی له نقشې نه دشوروی اتحاد نوم حذف کړا ی شو

د آزادو هیوادونو د نوي مشترکه دولت مشرانو د قزاقستان په پایتخت آلماتا کښې اعلان وکړ چي شوروي اتحاد نورختم شوي اودهغه پر ځاي یې دمشترك المنافع آزادو هیوادونو یوي نوي تنظیم تشکیل کړي دي .

د نړیوالو خبري آژانسونو دریوټ له مخي په دغي غونډه کښې چي مشري یې د قزاقستان د جمهور رئیس سلطان نظربایوف په غاړه وه ١١ جمهوریتونو ګډون کړي ؤ اود ګرجستان جمهوریت هم د کتونکي په توګه پکښې حضور درلود .

په غونډه کښې فیصله وشوه چي د پخواني شوروي اتحاد وسلي به په ګډه کنترول کیږي او دهغه هیواد پخواني د دفاع وزیر د استراتیژیکي قواؤ مشر مقررشوي دي . استراتیژیکي اتومي وسلي به د روسیي جمهوریت ته لیږدول کیږي اوهلته به له منځه وړل کیږي خو وروسته داخبره جیرانوونکي وه چي بوکراین اوبلو روسیه هم په دي رضا شول چي که داتومي وسلو د استعمالولو ضرورت پیش شو نو دروس د مشر بوریس ایلتسین لاس به ورته آزادوي . په دي خبره هم څه اعتراض ونه شو چي روس به د ملګرومطتونو په امنیتي شورئ کښې د پخواني شوروي اتحاد ځوکي ترلاسه کوي ترڅو دغه جمهوریت د نورو جمهوریتونو ترجماني وکړي .

## دروس له رنګیدو وروسته اسلامي هیوادونه کولای شي دامریکې دجارحانه عزم مخنیوی وکړي

پیرهارون شاه

د پاکستان دجمعیت العلماء اسلام د اطلاعاتو مشر «پیرهارون شاه» ویلی دي چي دامریکی لخوا دنوی نړیوال نظم دموثري مقابلي لپاره ، په نړیواله سطحه داسلامي بلاك دجوړولوشدیدضرورت دی .

پیرهارون شاه ویلی دي : د افسوس خبره داده چي پرته له څو اسلامي هیوادونو نوروټول د امریکی ایجنټان دی چي د پردي ترشا د اسلامي هیوادونو د یووالي اواتحاد مخالفت کوي .

همدارنګه هغه ویلي دي چي : په نړیواله سطحه د روس د له منځه تلو نه وروسته اوس یوازې اسلامي بلاك کولای شي د امریکی د جارحانه عزم مخنیوی وکړي .

هغه وویل : اسلامي هیوادونه ته

هفته نامه

# اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز : اتحاد اسلامی افغانستان
سال تاسیس : عقرب ـ ۱۳٦٤
ناشر : بخش فرهنگی ریاست دعوت وارشاد

## سرمقاله

## د سرې جدي له رارسیدو مخکې د نړۍ له نقشې نه د شوروي اتحاد نوم ورك شو

د سوره، توبه په ۱٤ -۱٥ آیتونو کښې په دې مفهوم راغلې دي چې : « تاسې ددین له دښمنانو سره وجنګیږئ ، الله به هغوته ستاسې په لاسونو سزا ورکړي اوهغوي به رسوا اوذلیل کړي دهغو پرخلاف به له تاسې سره مرسته اونصرت وکړي اود مؤمنانو زړونه به یخ کړي اودزړونو تاؤتپ به یې وباسي ...... »

معنادا چې ستاسې وظیفه جهاد کول دي ، خداي به تاسې د خپل تقدیر اوارادې آله او وسیله وګرځوي ، هغوي ته به خپل عذاب اوسزا ستاسې په لاسونو ورسوي ، هغوي ته به ماتې ورکړي اوذلیل به یې کړي ، که دښمنان موهرڅومره قوي اود شمېر او وسلې په لحاظ زیات وي اوتاسې بې وسلې او بېوسیلې اوسئ خو خداي به ستاسې ملې مظبوطې کړي اوخپله خاصه مرسته اونصرت به درسره ملګرې کړي ، دهغوي د لاسه چې تاسې ته کوم کړاوونه او تکلیفونه رسیدلي دي اویه دې توګه یې ستاسې زړونه زخمي کړي دي الله به ستاسې پرزخمي زړونو د ملهم پټۍ ولګوي اودهغو د ذلیل حالت په لیدو به ستاسې زړونه یخ کړي .

هو ، د الله تعالی دغه سنت د تاریخ په اوږدو کښې لیدل شوي دي ، دحق اوباطل په معرکو کښې که په لومړي سرکښې د باطل پیروان د ظاهري اسبابو په لحاظ پرمخ تللي اوغالب لیدل شوي دي خو په نتیجه کښې بې د کم شمیر اوپه ظاهره کمزورو حقپالونکو په لاس تار په تار شوي اوله شرمه ډکې ماتې سره مخامخ شوي دي .

ددې لړۍ یوه کړۍ د تاریخ په دې پړاؤ کښې د شوروي اتحاد د سرې خونړۍ امپراطورۍ ټوټه ټوټه کیدل اود نړۍ له نقشې نه دهغې د نوم محوه کیدل دي . دغه شیطاني ځواك په افغانستان کښې د یوې وحشیانه کودتا په وسیله د خپلو ملحدو ګوډاګیو درامینځ ته کولو په تعقیب د ۱۳٥۸ کال د جدي په شپږمه د افغانستان پرآزاده او اسلامي خاوره باندې عسکري تاړاك وکړ اوپه هرډول تباه کوونکو وسلو باندې سمبال یونیم لاك پوځ یې داخل کړ اوپه دې تکل چې له افغانستان څخه د اسلام نوم ورك کړي اودغه آزاد مسلمان هیواد د « شوروي اتحاد » پنځلسم ایالت وګرځوي ددې هیواد د بېدفاع خلکو په قتل عام یې لاس پورې کړ ، دیارلس کاله یې په دغه مظلوم ملت باندې د بمونو اوتوپونو اوګولیو باران جوړکړ اود باروتو په لمبو اولوخړو کښې سپین ږیري ، ځوانان ، ښځې اوماشومان وریت شول ، خو الحمدلله چې دغه مسلمان ملت ددغو ټولو درندو مصیبتونو په وړاندې مقاومت وکړ اوخپل جهاد ته یې ادامه ورکړه چې په نتیجه کښې د خداي وعده متحققه شوه ، د سرو لښکرو د رسوائي نه ډکې ماتې په تعقیب دادې سږکال د جدي په پیل کښې د « شوروي اتحاد !! » ټغرد ځمکې له مخ نه ټول شو اوجنازه یې پورته کړاي شوه .

د الهي ارشاد په اساس چې : « وله کافرانو سره ترهغه وجنګیږئ چې فتنه باقي پاتې نشي اودین (دژوندنظام) ټول بیرازي د الله له پاره شي » زمونږ د سپیڅلي اسلامي جهاد له دوو هدفونو څخه یوچې د فتنې یعنې ددښمن د غلبې اوبرلاسی محوه کیدل دي ترسره شو خودویم هدف چې ددین اقامه ده اویه خپل محبوب هیواد کښې د اسلامي سوچه نظام برقرا رول اوناقذول دي متأسفانه هغه ته لاتر یو رسیدلي اودغه هدف ته درسیدو په لاره کښې د نورو خنډونو ترڅنګ یو مهم او اساسي خنډ د مجاهدینو په صفونو کښې د نظم اواتحاد نشتوالي دي .

په خواشینې سره باید ووایو چې د اسلام دښمنان اوزمونږ د جهاد دښمنان چې په هیڅ شان نه غواړي په افغانستان کښې د مجاهدینو په لاس اسلامي نظام جوړشي ، زمونږ له اختلاف نه ګټه اخلي اوهغه لاري را وړاندي کوي چې زمونږ له هدف اوارمان سره منافي ګڼل بلکې داسې لارې اوطرحې دي چې زمونږ جهاد په فتنه بدلوي یعنې دې ته زمینه برابروي چې په افغانستان کښې امنیت ټینګ نشي اود ملت وګړي چې ټول مسلح دي په خپلو کښې سره وجنګیږي اوداسې ورور وژنې مینځ ته راشي چې خداي مکره قاتل اومقتول دواړه دوزخ ته لاړشي .

په وروستي طرحه کښې چې څه موده دمخه دځو جهادي تنظیمونو له خوا په اسلام آباد کښې لاس لیك شوه د قیادي شوري اوکمیسیون په جوړولو توافق وشو چې نه یوازي موږ ځو کاله دمخه دا ترڅه ناکامه تجربه لیدلې ده اوهیڅ ورڅخه ندي جوړشوي بلکې سربیره په دې یوشمیر نیمګړتیاوې هم لري چې عمل کول ورباندې مشکل دي ، مثلاً :

**۱- (د قیادي شوري تشکیل چې د تنظیمونو مشران بې غړي دي ......)**

په دې کښې هغه ستونزه بیاهم نده اواره شوې چې په دې دیارلسو کلونو کښې بې زمونږ ملت ځورولی دی یعنې په یوه مشر باندې توافق کول اودهغه په خواو شا کښې په اخلاص سره راټولیدل .

**۲- (داسلامي انتقالي حکومت جوړول چې مشران په کښې برخه نه اخلي)**

کله چې مشران په کښې برخه نه اخلي نو معلومه نده چې دا حکومت به له کومو خلکو څخه جوړیږي . یعنې په دې حکومت کښې به له مجاهدینو پرته نور خوك برخه اخلي اوکه په اصطلاح وسیع البنیاد به وي .

**۳- (پخواني پوځلړیښت کسیزکمیسیون به ترسل کسیز پورې پراخیږي)**

ص ۳

## تجاوز وحشیانه قشون سرخ یك فاجعه، ننګین درتاریخ است

تجاوز وحشیانه، روسها بالشکر بې مهار وخونخوار در ٦ جدي ۱۳٥۸ بزرګترین جنایت ننګین وبې سابقه درتاریخ جهان است . روسها بازیر پاګذاردن سایر موازین بین المللي قواي وحشي واشغالګر خود را درین روز ازطریق فضا زمین بر سرزمین وملت مظلوم وبیدفاع کشور ما براي قتل ، جنایت ، خونریزي ، غارت وچپاول بیشرمانه داخل افغانستان نمودند تا رژیم منفور کودتاي کمونیستي هفت ثور را از سرنګوني قریب الوقوع که در اثر مقاومت مجاهدین سرسپرده اسلام آخرین روز هاي زندګي ننګین خود را میګذرانید با زور وترور ، ارعاب ووحشت برملت مسلمان ما تحمیل نمایند تسلیحات تباه کن ومدرن را از طیارات بم افګن میګ تاګنشپ ها واسلحه، ثقیله وخفیفه، اتوماتیك راداخل سرزمین اسلامي ما نموده و باقواي وحشي یك هجوم غیر مترقبه را علیه افغانستان بر راه انداختند اردوي وحشي روس درهرنقطه وکنار سرزمین ما دست به جنایت آدم کشي ، چور وچپاول زدند اطفال معصوم وبیګناه ، زنان عفیفه ، جوانان وموسفیدان را بې رحمانه بطور انفرادي ودسته جمعي بقتل رسانیدند آبادي ها ومنازل مسکوني و زمین هاي زراعتي ومحلات مسلمانان را بابمباردمان شدید ووحشیانه، هوائي وآتش بارهاي زمیني به ویرانه مبدل کردند که ازین ناحیه خسارات هنګفتي مالي وجاني وقرامات زراعتي را برمردم مسلمان افغانستان تحمیل نمودند ، روسها دروهله اول تهاجم به این فکر باطل بودند تا قواي مقاومت حالت مجاهد افغانستان راکه از وقوع کودتاي ثور توسط خلقي ها وپرچمي ها به راه انداخته بودند سرکوب کنند وبزعم فاسد شان افغانستان را جزء قلمرو استعماري اقمار مستعمره، سوسیالیستي خود چون جمهوریت هاي آسیاي میانه سازند ودرقدم دوم نقشه امپراطوري خود را بطرف خلیج فارس ومنابع نفتي شرق میانه و آب هاي ګرم بحر هند که از سالیان دراز این خیالباتي ها را به سرمي پروراندند وسعت بخشند .

مګر درمقابل با مقاومت مؤمنانه و شجاعانه ملت مسلمان وباشهامت افغان مواجه ګردیدند وچنان ضربات دندان شکن برپیکر پلید قشون سرخ وارد آوردند که سي ودو دندان اژدهاي سرخ مارکسیزم ولنینیزم درکریملن ، لیننګراد ومسکو شکست ونتیجه برخلاف رؤیاي خیالي وپوشالي روسها معکوس شد وآن اینکه باشکست قشون سرخ که دنیا از وحشت وبربریست آن بیم واندیشه داشت واین مفکوره در اذهان جهانیان زرق شده بود که هرګاه روسها اراده، بلعیدن سرزمیني راکنند وباقشون سرخ را براي هجوم واشغال اعزام بدارند درفرجام به شکست وناکامي مواجه نمیګردند امپراطوري استعماري روس درمقابل سلاح شکست ناپذیر عقیده وایمان مجاهدین دلیر وسربکف افغانستان به هزیمت روبرو شد ونه تنها اینکه تمام نقشه هاي شیطاني وطاغوتي لیدران کمونیست وغلامان اوباش آن نقش برآب شد وسپاه الحاد نتوانست یك قدمي را از سرحدات افغانستان جهت تسخیر ممالك همجوار وپیداکردن راه دریوبحر بیرون ګذارد بلکه در هرسنګر به شکست ، ناکامي وذلت مواجه شد که سرانجام ازخاك افغانستان که براي روسها ګورستان ګردیده بود فرارکردند و در آنسوي آمو شکست وزلزله برکاخ کریملین بوقوع پیوست ومهره هاي کمونیزم ازهم پاشید وستاره، سرخ چکمه پوشان جنایتکار براي ابد از آسمان جهان وازنقشه، سیاسي ګردون افول نموده ناپدید ګردید . ما الحمد لله والمنه با داشتن ایمان آهنین وعقیده راسخ بوجود خداوند غالب وقدیر که همین نیروي پیروزي وسرنوشت ساز مسلمانان است آهن وآتش قواي مادي وشیطاني روس راکه یك ابر طاقت جهاني بود به شکست ، رسوائي وناکامي کشانیدیم ودرحقیقت ذات پاك خداوند قوي وکارساز یوزه، استکبار شرق را بدست مجاهدین افغانستان شکستاند وانشاء الله تمام فراعنه زمان ومستکبرین جهان به این سرنوشت رسیدني هستند اکنون ما وظیفه داریم تاباامسئولیت تمامتر وآګاهي بیشتر در تداوم جهاد مسلحانه آخرین بقایاي رژیم ملحد وکمونیست کابل را ازصحنه هستي محو سازیم ودربرابر نیرنګهاي استعمار ودسایس شیطان بزرګ ( امریکا ) ودیګر قدرت هاي ذلیل بیدار باشیم تا این افتخارات وقهرماني هاي انقلابیون مسلمان راکه بخون هزاران شهید بدست آمده درصحنه، سیاست نبازیم وتمام قواي جهادي ونیروي نظامي خود را دراسقاط وسرنګوني رژیم کافر نجیب ونابودي باندهاي ملحد خلق وپرچم تمرکز دهیم ودرسنګر سیاست وجبهات ګرم جهاد مؤمرات استعمار جهاني را عقیم سازیم - تا نعم البدل تمام قرباني ها وایثار ګریهاي شهیدان اسلام را بریك حکومت اسلامي دست یازیم . انشاء الله تعالی

عبدالرقیب « جهید »

## په شمالي افریقاکښې داسلامي نهضتونو په وړاندې داستعمارتوطئې

په دې وروستیو وختونو کښې د اسلامي تحریك پوشمیر فعال غړي د شمالي افریقا په دري هیوادونو لکه الجزایر ، تونس او مراکش کښې نیول شوي اویه ډېرو سختو شرایطو کښې ددغو هیوادونو په بندیخانو کښې شپې ورځې تیروي . له بلې خوا د اسلامي تحریکونو په وړاندې ددغو هیوادونو د تولیزو اطلاعاتي وسایلو له منفي تبلیغاتو څخه داسې ښکاري چې اوس دغه رژیمونه ددغو اسلامي خوځښتونو له ودې اوپراختیا نه په ویره کښې دي او غواړي چې د یو شمیر سیاسي ماحورو اوپوچو تبلیغاتو په لاره اچولو سره خپلې اسلامي ضد او غیر انساني توطئې پلې کړي .

دغه دري هیوادونه تقریباً دري لسیزې وړاندې د فرانسې یوه برخه ګڼل کیده اویه حقیقت کښې د الجزایر ټول مسئولیتونه فرانسې په غاړه درلودل . همدا دقدرت په ساتنه کښې د فرانسې ټینګار ؤ چې د الجزایر د خپلواکۍ د جګړې « ٦۱-۱۹٥٤ » موجبات یې برابرکړل اویه خپل وارسره ډېره خونړۍ اوله تشددنه ډکه جګړه وه . په تونس اومراکش کښې وضع د الجزایر په پرتله ډېره ګرکیچنه نه وه داځکه چې په دغو هیوادونو کښې یا خو دومره زیات اروپائیان نه اوسیدل اویاځو فرانسې هغوته په داسې متفاوت نظر کتل چې دغه هیوادونه « افریقایي » دي نه « فرانسوي » .

فرانسې په ۱۹٦۲ کال کښې مراکش اوالجزایر ته اویه ۱۹٥۷ کال کښې تونس ته خپلواکي ورکړه خو دغو دري هیوادونو ، په مختلفو درجو سره ، له استعماري حکومت نه په میراث پاتې تحقیر تجربه کړ .

د غودري هیوادونو د ښکیلاك د دوران له ترخو تجربو اوتاودو سره سره ، له خپلواکۍ نه وروسته له فرانسې سره حسنه اړیکې ټینګې کړې داځکه چې دغو هیوادونو په حقیقت کښې د خپل راتلونکې د برخلیك د ټاکلو حق نه درلود که ظاهراً یې سیاسي خپلواکي ترلاسه کړې وه خوله اقتصادي پلوه بیا د مدیترانې د بحیرې په شمالي څنډو کښې د پرتو مقتدرو ګاونډیانو تراغیزې لاندې ؤ .

له غربي نړۍ سره اړیکې :

مراکش له همغه اول وخت نه دې ته ترجیح ورکړه چې د اوبو په جریان کښې لامبووهي . پنځم شاه محمد اوځوی یې دریم شاه حسن په دې لړه کښې شول چې خپل روابط له امریکا اوفرانسې سره ټینګ کړي . فرانسې د مراکش له استقلال نه وروسته له هغه هیواد سره لکه پخوا خپل موقف وساته اوهغه ته یې دوام ورکړ . امریکا ته هم پوځي قرارګاه ورکول شوه اوکله چې غربیان د شوروي له پراختیا غوښتنې نه په ویره کښې شول نو امریکا بو ځته نوره هم وړاندې ولاړه اوپه مراکش کښې یې تعلیماتي امکانات هم ترلاسه کړل . له بلې خوا د شاه حسن ګډې هلې ځلې اوتعاون د واشنګټن دواکدارانو د پاملرنې وړوګرځید اود سیاسي او استراتیژیکو اړیکو په توګه تلقي شوه چې تراوسه دوام لري .

تونس سره له دې چې د مراکش په پرتله وړوکی اوله استراتیژیکي پلوه لږ ارزښت درلود ، خوبیاهم دغربیانو د ګټو ساتلو نه یې ملاتړله اودهغو له سیاست نه یې پیروي نموره کړه . د تونس مشر « حبیب بورقیبه » سره له دې چې کلونه یې د فرانسې په استعماري بندیخانه کښې تیرکړي ؤ خوبیا هم د خپل هیواد ګټه یې په دې کښې ولیدله چې مراکش له اروپایي ټولنې اوفرانسې سره اقتصادي او سیاسي اړیکې ولري اوپه دې لړکښې یې د مدیترانې په بحیره کښې د امریکا یوې ستري بیړۍ ته هم آسانتیاوې برابرې کړې . « بورقیبه » او « شاه حسن » په دې هکله چې غوښتل یې له شوروي نه لرې والی غوره کړي ، ستونزو اومشکلاتوسره مخامخ شول .

د شوروي انتخاب:

برعکس ، په الجزایر کښې وضعه په ټوله معنی بل شانته وه . د فرانسې اړیکې د الجزایریانوسره د خپلواکۍ غوښتونکو خونړیو جګړو له امله کله کمزورې اوکله هم قطع وې . « احمدبن بلا » له خپلواکۍ نه وروسته لومړی مشرؤ ، چې الجزایرته یې په بین المللي ډګرکښې د دریمې نړۍ دیوسترهیواد په توګه کتل اوهغه په یې کوله څودفرانسې سره خپلې اړیکې رشلوي خوداکارممکن نه وو . « بن بلا » هغه کوله څو په تجارتي اوپوځي ډګرونو کښې له شوروي سره اړیکې ټینګې کړي . شوروي چې په هغه وخت کښې داخلي ځلې کولې چه د دریمې نړۍ نوي خپلواکې ته رسیدلي هیوادونه ترخپلې واکمنې لاندې راولي ، په خپلو تجارتي اوتعاوني وړاندیزونو سره ددې مدعي شو چې د پانګه والي اوغربي استعمار په مقابل کښې دغه هیوادونه « طبیعي انتخاب » دي . « بن بلا » د شوروي دغو وړاندیزونو ته په ډېره مینه ځواب ورکړ اوددغه کار د نتیجې په توګه یې په ۱۹٦٤ میلادي کال کښې د « لنین د ټولنې » نړیتوب ومانه اودا تصمیم ونیول شو چې د الجزایر مسلحې قواوې دې د شورویانو په وسیله مجهزې او وروزل شي اویه مقابل کښې په شوروي د الجزایر د انګورو هغه محصول چې د اروپا په بازارونو کښې یې نه پلورل کیدل وپیري .

په دې توګه له شوروي سره د الجزایر اړیکې ټینګې شوې اوښایي ددې لامل ددغه هیواد په ساحلي اوبوکښې د یوې اډې ورکول ، اوبیا په ۱۹٦٥ کال کښې « بن بلا » دحکومت نسکوریدل و چې بیا وروسته دهغه د دفاع وزیر « حواري بومدین » د الجزایر جمهور رئیس شو .

ددې نتیجه داشوه چې الجزایر له شوروي سره خپلې اړیکې وساتي خو پخواني پالیسي ته یې بوځل بیا رجوع وکړه اود ناپیلو هیوادونو ټولنې ته یې ورودانګل . په نتیجه کښې شوروي د ۱۹۸۰ لسیزې په دوران کښې د الجزایر دوسله والو قواو پوځي تجهیزات برابرکړل خودغه اړیکې لکه د پخوا په شان تودې نه وې او « بومدین » شوروي ته د « اوران » د پوځي اډې له تأسیساتو اوتعمیراتي تسهیلاتونه دګټې اخیستلو اجازه ورنکړه « بن بلا » دومره هیله درلوده چې د دریمې نړۍ په صحنه کښې دې داسې یوموقعیت په لاس راوړي په کومه اندازه چې هغه له داخلي سیاست نه - چې همدا کار دهغه د سقوط لامل برابرکړ - ستړګې پټې کړې وې .

په دې اساس په لومړي لسیزه اودخپلواکۍ په تیره لارکښې په غرب باندې واکمه عمومي اوانه ، د سیاسي پروسې په پرتله کاملاً غیر مطمئنه اود پروسې ډېرنه وه ، ددې وارو هیوادونو ، د صنعتي قدرت د نه درلودلو له امله ، په سوداګرۍ کښې زیان ولید . له بلې خوا کرهڼې ته نه پاملنه بالخصوص په الجزایر کښې د فقر موجبات برابرکړل چې بیا وروسته د بیکارۍ د ناڅاپه احساس وضعیت په توګه راڅرګند شو .

الجزایر نن ورځ له زیاتو ستونزو سره مخامخ دی . په ۱۹۷۸ میلادي کال کښې « حواري بومدین » مړشو او « شاذلي بن جدید » د قدرت په ګدۍ کښیناست . نوموړي د خپلو اسلافو سیاست تعقیب کړ اوهڅې یې وکړې چې الجزایر په بین المللي مسایلو کښې د دریمګړي رول ولوبوي لکه چې د ۱۹۸۱ کال د جولای په میاشت کښې یې دیرغمليانو په ستونزه کښې د امریکا او ایران ترمینځ منځګړیتوب وکړ . له هغه نه وروسته الجزایر دغربیانو په سترګو کښې یو بین المللي اعتبار ترلاسه کړ لکه چې یوګوسلاویا د ټیټو په دوران کښې ترلاسه کړی ؤ .

د « شاذلي بن جدید » په دوران کښې د ملي آزادۍ پیشونکې جبهې کړد وړو اوطبیعي ګاز اوتیلو په عایداتوپورې د الجزایر د پیشتوب په دلیل د انرژي د نرخونو کمیدو ، د پورونو د اداکولو په موازنه کښې دوانوونکي رول درلود . اوکله چې په ۱۹۸٦ میلادي

ص ۳

## دروسانو اوسنیو اقتصادي ،اجتماعي ،سیاسي اونظامي ستونزوته یوه کتنه

د محمد داؤد بهار لیکنه

سره لندي چې په روسیه کي نوي بدلونونه روان دي ، خو هغه هیواد نه دکمونیستانو له ۷۳ کلني حکمرانۍ نه داسې څه په میراث نه دي پاتې شوي چې دروسیې اوسني زمامداران پرې وشي کولی خپلې اقتصادي ، اجتماعي ، سیاسي او نظامي ستونزي حل اوله مینځه یوسي او ګورباچوف خپل هغه پلانونه چې دیبا رغاونې په نوم یې طرحه کړي په عمل کي پلي کړي .

کـه لـه یـوې خـوا ګـورباچـوف اوطرفدارانویې داحقیقت درك کړي چې دکمونیزم خیالي اوبې معنی مفکوري او اقتصادي پلانونویې ټولنه دبربادي کندي ته کش کړي اونن یې دکمونیزم دړنګیدو په خاطر خپلې مټې رانغاړلي خوله بلې خوایې دملنګي کچکول په غاړه اچولي او خپل پام یې دغرب او امریکې دخیراتونو اومرستو په لور اړولي اویدې فکر دي چې ګواکي پانګوالي اقتصادي سیستم به یې دټولنې پورته ذکر شوي معضلي ( اقتصادي ، اجتماعي ، سیاسي او نظامي معضلي ) حل او له مینځه یوسي او روسي ټولنې ته به له اقتصادي بحران نه دخلاصون لیاروموسي ،لیکن واقعیت بل اوهغه دادي چې نن دغربیانو او امریکائیانو بې حسابه اقتصادي خیراتونو هم دروسیې په مشکلاتو نه یوازې دملهم پټۍ نده ایښې بلکې په روسیه کي یې دومره مشکلات را پیداکړي چې نن یې روسي مشرانو او دامنیت مسئولین له علاج نه عاجزپاتې شوي اؤډیرونادوډ پیښو مخه په رڼا ورځ هم نشي نیولي اوهمدي کار ( اجتماعي فسادونو ) په روسیه کي دومره بد تاثیر کړي چې اوس دروسانو لوي مرکز ( مسکو ) هم په نړیواله سویه دیې امنیته ښار په نوم یاد شوي او داړه ماران پکښې په رڼا ورځ دخلکو مالونه لوټوي اوحتې له ټکسي ګانو نه جاپاني ټیپونه او راډیوګاني خلاصوي اوبیائې په تورو بازارونو کي دخو روبلو په بدل پلوري .

په روسیه کښې دمخدره موادو استعمال ، مخفي بیکاري ، موسمي ( فعلي ) بیکاري ، بهې خوړل او نور هغه اجتماعي معضلي او فسادونه دي چې اوس اوبیخوا په روسیه کي وو اوشته ، ولې دحل په هکله یې دروسیې پخوانیو او اوسنیو مشرانو کوم جدي ګامونه ندي پورته کړي داځکه چې دروسانو اقتصادي سیستم او اجتماعي مسیریې لا تراوسه په یوه داسې نظم اقتصادي سیستم ندي ودریدلي چې په هغه سیستم کي داجتماعي فسادونو او نورو معضلو له مینځه وړلو لپاره کوم خاص پام شوي وي ، بلکې واقعیت دادي چې دروسانو دجامعې زیربنا ( تهداب ) په خیانت اوبې معني مفکورو ولاړه وه او لاتر اوسه ولاړه ده اودافسادونه ( اجتماعي فسادونه ) به ترهغه وخته په روسیه کي دوام ولري ترڅو چې روسان په واقعي توګه دخپلې جامعې سرنوشت ته پام وکړي اویه یوه داسې لیار چې په هغې کي یې ددنیا اوآخرت سعادتونه تضمین شي حرکت وکړي اوهغه لیار به دروسانو لپاره داسلام حقیقي لیار وي اوبس ، اوکه داسې ونکړي نو لیري به نه وي چې روسان له پانګه وال اقتصادي سیستم نه هم داسې ترخې خاطرې اوتجربې تر لاسه کړي لکه چې نن یې له کمونستي نظام نه ترلاسه کړي اوخپله روسان پرې اعتراف کوي چې دجامعې داوسیدونکو بدبختي دکمونیست نظام دغلطو مفکورو نتیجه ده .

داجتماعي ستونزو ترڅنګه اقتصادي ستونزي هم په روسیه کي دومره زیاتې شوي چې حتې مرکزي بانکونه یې هم له مفلسۍ سره مخامخ دي اوکه له روسانو سره غربیانو اوامریکائیانو اقتصادي مرستې نه واې کړي نو دروسانو اقتصادي ستونزي به لدې هم لازیاتې شوي واې .

## امریکا ومسئله فلسطین

## برگزاری کنفرانسهای رنگارنگ

ترجمه وتلخیص احمد زیاد

درجنګ رمضان ، اکتوبر ۱۹۷۳ میلادي که دلپذیر ترین نبردهاي اعراب وجهان اسلام بارژیم اسرائیل شمرده میشود ونیروهاي اکثر کشورهاي عربي درآن شرکت جستند ، ارتش اسلام توانست با ایثار وقرباني ازقلعه معروف « بارلیو » که زماني اسرائیل مدعي بود که درهم شکستن چنین استحکاماتي ازمحالات بوده وضرورت به بمب اتم دارد ، عبور نموده وافسانه شکست ناپذیري اردوي متجاوز رادرهم بکوبند . دراین جنګ عظیم وطني که براي اولین بارشایستګي ، قدرت اسلامي وعربي را نمایان ساخت امریکا علناً وعملاً وارد صحنه کار زار برضد اعراب شد وباکمك هاي اطلاعاتي ونظامي خود زمینه آن را مساعد ساخت که قواي اسرائیل به غرب کانال سویز رخنه کند وشهر سویز را محاصره نماید .

تجربه، جنګ ۱۹۷۳ میلادي باعث تغییراتي دوباره درسیاست خارجي امریکا درشرق میانه شد . امریکائیها به این نتیجه رسیدند که براي ادامه حضور استعماري ودخالت هاي خود دوهدف ذیل را تعقیب نماید :

۱ - جلوګري هرچه مطمئن تر از برخورد قدرتهاي نظامي بین امریکاوشوروي .

۲ - ممانعت ازبروز جنګ مجدد بین اعراب واسرائیل وجلوګیري ازګسترش نفوذ نهضت هاي اسلامي وملي .

درمورد اول که جلوګیري ازبرخورد مسلحانه بین دو ابر قدرت درمنطقه باشد شکي نیست که هردوکشور به جهت مشکلات داخلي وخارجي به این امر میل نداشتند وتاکنون هم چنین واقعه اي رخ نداده است .

درمورد دوم که ممانعت ازبروز جنګ اعراب واسرائیل وجلوګیري ازګسترش نفوذ حرکت هاي اسلامي بود ، بهترین زمینه براي تداوم مداخلات امریکا درشرق میانه رامساعد ساخت . این برنامه جدید طراحان سیاست خارجي امریکاست وعملاً هم بعد از آتش جنګ رمضان و استقرار نیروهاي سازمان ملل متحد درمنطقه به اصطلاح آشوب زده هیچګونه درګیري مسلحانه وسیع ازجانب اعراب واسرائیل بروز نکرده است . امریکا این مشکل را به دوصورت امکان پذیر ساخت . نخست تغییرجهت دادن افکار وانرژي اعراب ازمبارزه، مسلحانه ومقابله با اسرائیل وتوجه کشورهاي اسلامي به اعمار مجدد منطقه که براي این منظور امریکا حاضرشد تغییرات درنحوه قیمت ګذاري نفت دربازار جهاني بوجود آورد ودالرهاي نفتي را به این سرزمین ها سرازیرکند تا سران کشورهاي منطقه به اصلاح با اعمار وساختن کشور ادامه داده وضمن ادامه زندګي مجلل وافسانه اي خود شان مردم را هم به تن پروري واسراف عادت دهند . صورت دوم به سازش کشاندن بعضي ازسران خوش باور وساده لوح عرب درمنطقه وعقد پیمان هاي صلح جداګانه همراه باتقویت سالوسانه احزاب چپ وسوسیالیست دراسرائیل وبعضاً درمنطقه وتعمیم شعارهاي صلح جویانه ازجانب این سازمانها . این برنامه، سازشکارانه بابرګزاري کنفرانسهاي ګوناګون ورنګارنګ شکل عملي بخود ګرفت وراه را براي استحکام دولت غاصب اسرائیل مساعد ساخت . دراین راستا میتوانیم ازکنفرانسهاي اتحادیه عرب نام ببریم . این اتحادیه که پیش از پیدایش اسرائیل ، ایران خوشنودي کرده وآنرا نماینده ملت فلسطین دانستند ومنشور همبستګي اعراب را به امضاء رساندند .

ص ۳

چهارمین کنفرانس سران درخرطوم

## په شمالي افریقاکښي . . .

کال کښي هسپانیه او پرتگال د اروپایي ټولني په غړیتوب ومنل شول اوبیایي د شمالي افریقا د تولیدي محصولاتو گمرکي تعرفي زیاتي کړي الجزایر یوه بله ضربه هم ولیده . شاذلي په ۱۹۸۸ کال کښي دا تصمیم ونیو چي د خارجي پورونو یوه برخه اداکړي خودهمدغه کال په اکتوبر کښي د دوه‌ی زیږي د سختو پاڅونونو اومظاهرو لاملونه برابرکړل اود ملي آزادي بیثونکی جبهي ماهیت یې د هیواد د پوالځي سیاسي گوند په عنوان له سختو سوالونو سره مخامخ کړ .

پاڅون په ډیری بې رحمي اوشدت سره وځپل شو خود شاذلي حکومت بیا وروسته متوجه شو چي باید د دیموکراسي د احیا په هکله د خلکو فریادونه اوناري سوری پومل بیا تحلیل اوبررسي کړي . شاذلي وکولای شول په جبهه کښي خپل پوښمیر محافظه کار مرستیالان دی ته رامات کړي چي ښایي دولت په راتلونکي کښي ونشي کولای په ورته ابعادو سره د نورو تاکرارېږو څخه مخنیوی وکړي . په دي اساس په ۱۹۸۹ میلادي کال کښي دولت داسي موارد تصویب کړل چي دهغو په اساس په الجزایر کښي څوگوندیز سیستم رامینځ ته شو اود ۱۹۸۹ له وروستیو څخه د ۱۹۹۰ تر لومړیو پوري الترناتیف گوندونه راشکاره شول څو ملي آزادي بیثونکی جبهي سره زور وآزمایي . سره له دي چي ۴۰ گوندونو د سیاسي سیالیو ډگرته را ودانگل خویه هغو کښي یوازي د اسلامي ژغورني جبهي زیات شهرت ترلاسه کړ .

د ۱۹۹۰ کال د جون په میاشت کښي د نوی سیستم ترنظر لاندي محلي انتخابات ترسره شول چي په هغو کښي داسلامي ژغورني جبهي د عمومي رایو ۵۴ فیصده اوملي ژغورني جبهي ۲۸ فیصده رایې په لاس وروړي . د اسلامي ژغورني جبهي مشرعباس مدني د انتخاباتو د نتایجو له اعلان نه وروسته وویل چي دغه جبهه په نظر کښي لري چي په الجزایر کښي اسلامي حکومت جوړکړي . له انتخاباتو نه وړاندي حکومت داسي اټکل کاؤ چي د ځوانانو په مینځ کښي به د زیاتي بیکاری د موجودیت له امله یوڅه رایې له مینه سیالي خودا هیله یې نه درلوده چي په لوی پرتو سیمو کښي به زیاتي رایې له لاسه ورکړي اوله ماتي سره په مخامخ شي . شاذلي ددغو انتخاباتو نتایجو متلو په ترڅ کښي اعلان وکړ چي په ۱۹۹۱ کال کښي دي عمومي انتخابات وشي اودجون ۲۷ ددغه کار لپاره وټاکل شوه . شاذلي بن جدید د اسلامي جبهي د احتمالي بریالیتوب څخه د مخنیوي لپاره . خپل صدراعظم « مولود حمیش » دی ته وهڅاوه چي د انتخاباتو په قوانینو کښي بدلون راولي اوداسي زمینه برابره کړي چي دغه جبهه ونشي کولای زیات اکثریت وگټي . هماغه ؤ چي «حمیش» ددغه هدف د تحقق لپاره د انتخاباتو نیټه بدله کړه اوهغه یې د ۱۹۹۱ کال د جون د میاشتي پرځای د ۱۹۹۲ کال د جون میاشت وټاکله اودغه فیصله یې په پارلمان کښي هم تصویب کړه . له بلي خوا یو شمیرنورداسي قوانین یې هم تصویب کړل چي اسلامي جبهه ونشي کړای د انتخاباتو په دوران کښي د سیاسي اعلامیو اونورو فعالیتونو لپاره له جوماتونونه استفاده وکړي .

«عباس مدني» اودهغه مرستیال «علي بالحاج» چي باید په دي حساس پړاوکښي غرځ اوریکنده عمل وکړي اوپاخوپه راتلونکوانتخاباتوکښي دخپل گوندوله مینځه تللوخطرومني . په دي لړکښي هغوی د مي په ۲۵ دیونامحدود عمومي اعتصاب غوښتونکی شول اوداهیله یې وکړه چي ترهغو پوري د جمهوري ریاست د انتخاباتو لپاره نیټه ونه ټاکل شي خپل اعتصاب ته به خاتمه ورنکړي ددغه اعتصاب لومړي پړاو ترسیځو خو د دولت انعطاف ونه ښود اوځیله کړنلاره یې همغه شان تعقیبوله . اسلامي جبهه دي ته اړشوه چي بیرل اعتصاب په لاره واچوي اوحکومت د خپلو غوښتنو منلوته اړکړي . ددغه کار د تحقق لپاره د جون په ٤، ۵ او ٦ نیټه په ټولو ښارونو کښي عمومي اعتصاب په لاره واچول شو چي دغه په نتیجه کښي د الجزیري ښار فلج اوپوځیانو ددغه تحریك د خپلو لپاره میدان ته راودانگل .

په دغه دولتي ضد پاڅون کښي ۴۰ تنه مړه اوسوزیات شمیر ټپیان شول . د حکومت دغه خصمانه اقدام د نورو تاکرارېږو اوگډوډیو موجبات برابرکړل چي د «حمروش» په استعفاباندي منجرشو .

تورپیا

## دروسانو اوسنیو اقتصادي . . . .

دروسیي په اقتصاد باندي دانقلاسیون او احتکار زیاتوالي هم ناوړه اغیزه کړي ده څکه چي انفلاسیون او احتکار په بازارونو کي داجناسو قلت او دبیي لوړوالي رامنیځ ته کوي چي داکار دهغو خلکو په ضررتمامیږي کوم چي دکم او ثابت عاید خاوندان وي او دا واضح خبره ده چي په روسیه کي دکمو اوثابتو عایداتو خاوندان له حسابه وتلي خلك دي چي ټول یې تن اقتصادي بحران متاثره کړي دي او همدا علت دي چي نن (٦) ملیونه روسي اتباع غرب او امریکي ته دتیښتي په لټه کي دي او داقتصادي مشکلاتو له امله خپل پلرني وطن ته شا اړوي .

همدي اقتصادي ستونزو روسان دي ته مجبور کړي چي خپله فضائي او اتومي انرژي هم په امریکي وپلوري تر څو په دي وسیله تریوه حده پوري دخپلي جامعي په اقتصادي پرهارونو دملهم پټي کیږدي ، ولي داکار هم روسانو ته دیوه روښانه مستقبل زیري نشي ورکولي . پدي برسیره روسانو ته زیاتي سیاسي ستونزي( دافغانستان قضیه ، په روسیي کي اوسني بدلونونه ، په مرکزي آسیاکي دمسلمانانو بیداري ، داحتمالي کودتاگانو رامینځ ته کیدل ، دروسانو په داخلي او خارجي چارو کښي دغربیانو او امریکائیانو لاس وهني او ...... ) پرتي دي چي روسانویي دحل لاره ورکه کړیده

په نظامي ساحه کښي دروسانو هم هغه پوځیان چي په شرقي اروپاکي پراته دي په راز ، راز ستونزو سره اخته شوي اوهغه ځکه چي دوځو په تیریدو سره دروسانو له پوځي بارکونو نه روسي عسکر او افسران تیښتي کوي اوغربي هیوادونو ته پناه وړي اوحتي خپلي وسلي هم دتیښتي په وخت کي له ځانونو سره وړي اوبیایي په آزادو بازارونو کي پلوري

روسانو لپاره اوسي په نظامي ساحه کي غټه ستونزه ، په هغسو روسي جمهوریتونو کي داتومي وسلو موجودیت دي چي پاخوړي له روسانو نه خپلي آزادي ترلاسه کړي اوداچي دآزادي دلاس ته راوړو په درشل کښي دي . روسان ویره لري چي دهغو جمهوریتونو ، کوم چي آزادي یې ترلاسه کړي او داتومي وسلي لرونکي دي ، داتومي جنگ خطر زیات کړي اوددي امکان موجود دي چي دغه جمهوریتونه به په خپلو کښي داتومي جنگ سره مخامخ شي . نو ځکه روسي زمامداران کوښښ کوي چي ټولي اتومي وسلي دیوه واحد مرکز ترقوماندي لاندي او ځارني لاندي راولي خو تر اوسه روسي واکمنو پدي ساحه کښي کوم مثبت بریالیتوب ندي ترلاسه کړي او دهمدي ستونزي (اتومي ستونزي) لامله یې اندیښني نوري هم زیاتي شوي دي

## امریکا ومسئله . . .

درسال ۱۹٤۵ میلادي تأسیس شد ، مهترین مسئله ایکه این اتحادیه درپیش داشته رویارویي بامبارزه توسعه طلبي صهیونیستي ومشکل فلسطین بود .

راشد الغنوشي رهبر تحریك اسلامي تونس « النهضه » طي مقاله اي تحت عنوان تراژیدي فلسطین وکنفرانس هاي رنگارنگ مینویسد : هرگاه اسرائیل بخشي از طرحهایش را به مرحله اجرامي گذارد شاهان ورؤساي یکدیگر را به دیدار هم فرامیخواندند ویاداعیه مقابله باتوسعه طلبي صهیونیستي گردهم مي آمدند ویاصدور بیانیه هاي مبني برتائید مسئله فلسطین ومحکومیت صهیونیزم ودعوت به همبستگي عربي بعنوان حد اقل مرحله اي که درباره، آن اتفاق نظر داشتند - ازیکدیگر جدا مي شدند ، وحتي در اتفاق نظرپیرامون این مقدار ازشعار هاي میانه خالي درنخستین مرحله، کنفرانس فاس ناکام ماندند وجلسه بدون صدور حتي یك بیانیه به پایان رسید .

تصمیم اسرائیل مبني به تغییر مسیرآبهاي رود اردن جهت بهره برداري ازآن درصحراي نقب علت اصلي بزرگزاري نخستین کنفرانس بود . ازاین رو ، ناصر - در آن زمان که جنگ سردمیان رژیمهاي عرب به اوج رسیده بود - پادشاهان و رؤساي جمهور را به فراموش کردن اختلافات ذات البیني وگرد آمدن براي مقابله با توسعه طلبي فراخواند که به انعقاد اولین کنفرانس سران عرب درسال ۱۹٦٤ میلادي انجامید .

دردومین کنفرانس تصمیم گرفتند که به اجراي طرح متقابل تغییر مسیرابهاي رود اردن که درنخستین کنفرانس سران عرب به تصویب رسیده بود ، ادامه دهند وبرلزوم تکامل نیروهاي عربي تاکید ورزیدند . و درسومین کنفرانس سران درمراکش درسال ۱۹٦۵ میلادي درمورد احترام به حاکمیت هریك ازکشورهاي عرب وعدم دخالت درمسایل داخلي وآینکه تجاوز به هریك تجاوز به سایرین است ، به توافق رسیدند . ودرباره، مسئله فلسطین از تشکیل سازمان آزادیبخش فلسطین

درخزان سال ۱۹٦۵ میلادي یعني چهار ماه پس از تجاوز اسرائیل برگزارشد دراین کنفرانس باز پس گرفتن سرزمینهاي عربي حتي ازطریق جنگ با اسرائیل به تصویب رسید این کنفرانس به کنفرانس « نه » سه گانه معروف شد : نه : به شناسایي اسرائیل نه : به مذاکرات و نه : به صلح با اسرائیل .

پنجمین کنفرانس سران دررباط - ۱۹٦۹ بود ، وجه تمایز این کنفرانس عدم صدور مصوبات بود !

ششمین کنفرانس سران در الجزایر ۱۹۷۳ - منعقد گردید . وجه تمایز این کنفرانس که بعد از جنگ رمضان برگزارشد ، صدور بیانیه هاي متعدد کنفرانس خطاب به چندین هیئت بین المللي بود .

کنفرانس اعلام کرد که اهداف مرحله اي مبارزه اعراب عبارتند از : آزاد کردن کامل تمامي سرزمینهاي عرب باشغال شده سال ۱۹٦۵ وعدم چشم پوشي از هربخشي از این سرزمینها آزاد کردن بیت المقدس وعدم قبول هر وضعیتي که حاکمیت کامل اعراب بر این شهر مقدس را مخدوش سازد همبستگي کشورهاي عربي با مصر وسوریه وملت فلسطین وارائه پشتیباني رزمي به آنان ادامه .استفاده از سلاح نفت درجنگ ومنوط ساختن رفع تحریم صدور نفت به کشورهاي دیگر ، به پایبندي آن کشور درتائید مسئله اعراب .

هفتمین کنفرانس سران در رباط - ۱۹٦٤ - تشکیل یافت . عدم قبول هرگونه تلاش براي تحقق بخشیدن به راه حل هاي سیاسي نیم بند در این کنفرانس به تصویب رسید ! اردن اعلام کرد که باتصمیم کنفرانس الجزایر درمورد به رسمیت شناختن سازمان آزادیبخش به عنوان تنها نماینده قانوني ملت فلسطین با احتیاط برخورد مي کند !!

درهشتمین کنفرانس سران درقاهره - ۱۹۷٦ - برپایبندي قومي درباره حمایت ازمقاومت فلسطین وتقویت توانائیهاي آن براي پایداري تاکیدشد . درضمن ، کنفرانس ازکشورهاي جهان سوم تقاضاکرد که تجاوز اسرائیل رامحکوم کنند .

درنهمین کنفرانس سران که بدنبال کامپ دیوید ودربغداد - ۱۹۸۸ برگزارشد رد موافقتنامه کامپ دیوید وپشتیباني ازکشورهاي جبهه مقاومت وقیام ملت فلسطین وسازمان آزادیبخش فلسطین وشناسائي مسئله فلسطین به عنوان مسئله سرنوشت ساز ومقابله بادشمن صهیونیستي ، به تصویب رسید . درکنفرانس سران درتونس - ۱۹۷۹ - برمصوبات کنفرانس قبلي تاکید شد که به مخالفت باموافقتنامه کامپ دیوید ورد هرگونه راه حلي که دربرگیرنده، عقب نشیني کامل وبي قید وشرط ازتمامي سرزمینهاي فلسطین وعربي اشغالي نباشد ، ادامه دهند . وبه ملت فلسطین امکان تشکیل کشور مستقل را بدهند و امکانات استراتیژیك عربي را براي مقابله باکشورهائیکه ازموجودیت صهیونیزم پشتیباني مي کنند ، بکار گیرند دردوازدهمین اجلاس سران درفاس - ۱۹۸۱ - طرح فهد براي حل وفصل مسئله فلسطین موضوع اصلي اجلاس بود ، ولي کشمکش میان کشورهاي جبهه، مقاومت وکشورهاي به اصطلاح میانه رو ، دستیابي به اتفاق نظر را غیر ممکن ساخت به همین دلیل اجلاس بدون حصول هیچگونه توافقي به کارخود پایان داد .

ناگفته نباید گذاشت که جبهه مقاومت به تعقیب برگشت مصر از خط ملي گرائي وسوسیالیزم به سوي خط غربي سرمایه داري امریکایي پس ازبقدرت رسیدن سادات وهمپیماني وي باسودان وعربستان سعودي ، تشکیل شد . علاوه برسازمان آزادیبخش فلسطین ، یمن جنوبي والجزایر ، لیبیا ، سوریه ازمهمترین اعضاي این جبهه بودند .

علي الرغم تعدد وکثرت کنفرانسهاي سران ، تاکنون - صرف نظر ازپشتیباني لفظي وبعضاً پشتیباني مالي - درمورد هر مسئله اي که براي سرنوشت اعراب بخصوص مسئله فلسطین اهمیت دارد تصمیم گیري قاطعانه اي اتخاذ نشده وازموضعگیري منفي مبني برمخالفت باشناسائي اسرائیل - اما بدون بکارگیري زور براي آزاد کردن سرزمینهاي مغصوبه - فراتر نرفته است . همچنین این کنفرانسها از اتخاذ واقداماتي که منافع امریکا ، حامي اصلي اسرائیل را به خطر اندازد ، باز مانده است وشرکت کنندگان در این کنفرانسهاي تنها به محکوم کردن امریکا کفایت کرده اند . بنظر مي رسد که اعراب ، یعني حکمرانان عرب ، درمرحله دوم کنفرانس فاس سرانجام حتي درمخالفت با به رسمیت شناختن اسرائیل ومحکوم کردن حامیان آن هم پشیمان شده ! وعقب نشیني کردن اند این امر بطور آشکار نمایانگر نقش واقعي اینگونه کنفرانس ها بوده تا فرصتهایي براي تصفیه حسابهاي داخلي میان حکمرانان رامساعد سازد « بنابراین مطرح ساختن مسئله فلسطین دراینگونه کنفرانسها فقط براي مخفي نگهداشتن نارضایتي وخشم مردم ازخیانت حکمرانان و سهل انگاري آنان دراجراي خواسته هاي ملتها وشانه خالي کردن ازمسئولیت ، صورت مي گرفت .

کنفرانس مادرید که اخیراً تحت اشراف امریکا درهسپانیه برگزارگردید ادامه همچون کنفرانسها بوده که جز شکست اعراب وحفظ برتري اسرائیل نتیجه، دیگري در برنداشته است . البته کنفرانس فاس براي عربي کردن طرح امریکا وچاپ نسخه، عربي آن نقش مهمي به عهده داشته و زمینه، بهتري را براي برگزاري کنفرانس مادرید مساعد ساخت . نقش ایالات متحده امریکا دراین بازیهاي سیاسي ، همواره ویرانگر ومغرضانه بوده است وطرحهاي اخیر برگزاري کنفرانسها میان اعراب واسرائیل هم فقط براي حفظ برتري اسرائیل نسبت به کشورهاي عربي وازهم پاشیدن وحدت اعراب صورت گرفته تا بدینوسیله اسرائیل را ازضربه نهایي ملتهاي مسلمان نجات دهد .

## د نري د نقشي نه . . .

پوښتنه داده چي ایا بوغلوبینت کښیز کمیسیون له نزاع اواختلاف نه خالي ؤ چي اوس پراختیا ورکوله کیږي اوخوتنه نورهم په کښي زیاتول کیږي !!

داهم معلومه نده چي ددي کمیسیون مسئولیت اوصلاحیت به څه وي ، یوازي د قبادي شوري په څنگ کښي به یوه بله وړه شوري وي اوکه حکومت به جوړوي . که حکومت جوړوي نو ایا د افغانستان ملت به ددغو څوتنو کارته دا اعتناء اوارزښت په سترگه وگوري !!

**٤- (په یوکال کښي دننه به انتخابات کیږي)**

داخبره خوبوځل مخکښي مشورتي شوري هم شرط گرځولي وه ، په داسي حال کښي چي هغي شوري حکومت هم جوړکړی ؤ اود شوري د غړو شمیر هم څه دپاسه غلورسوه کسان وو خوبیاهم عملي نشو ، اوس به څنگه عملي کیږي ! انتخابات خودامنیت ټینگښت غواړي ، څوك به امنیت ټینگوي !! کله چي ټول ملت مسلح وي اود وسله والو دلو ترمینځ اتحاد او یووالي هم موجود نه وي نوایا د انتخاباتو خبره کول خیال پلوندي !!

بنه ، معقوله اومناسبه خبره داده چي د لفاظي پرځاي عملاً د ملت رأیي اونظرته ارزښت ورکړشي ، بایوځل بیا مشورتي شوري راوغوښتله شي چي په هغي کښي مجاهدین علماء ، منورین ، قومي مشران اوتقریباً دملت د ټولو قشرونو استازي شامل وو اوکه دانه وي نوله هغه شمیرنه زیات شمیر داسي کسان دي راوغوښتل شي چي شرعاً داهل عقد وحل د مواصفاتو لرونکي اوپه سلو کښي پنځوس دجهاد له قوماندانانو څخه اوسي .

که دغسي کومه معقوله طرح نه وي نوملت به څنگه توقع ولرلاي شي چي دڅوتنو پریکره هغه هم د اختلاف په فضاکښي به د دوي دالویه ستونزه حل کړاي شي ! متأسفانه چي په تیرو کلونو کښي نیمگړو طرحوزمونږ ملت کړکچن کړي دي ، ترڅو چي دجهادي تنظیمونو صفونه یوتشي اود یوې لوټي اسلامي شوري دراپي پراساس حکومت جوړنشي اودمجاهدینو یعني هغوکسانو په خوینه اوررضا کاروتشي چي په دي جهاد کښي یې خپلي وښي اوخولي توی کړي دي اوروسي زبرځواك یې له تېروالي رسوائي سره مخامخ کړي دي نوري ټولي طرحي نه د منلو وړدي اونه کوم ځاي نیولاي شي .

## اقـوال زریـن

*- خداوند «ج» به صورت ها واموال شمانه مي بیند ، بلکه به دلها واعمال شما نگاه میکند .

*- خودرا بزرگ شمردن درهرجاکه باشد نشانه بدبختي است .

*- خشم وغضب شعله سوزان اتشي است که ازناحیه شیطان در درون قلب هاي انسان افروخته میشود .

*- خوبي هارا دردیگران وبدیها را درخود جستجوکنید .

*- خوشبختي شما وقتي حاصل میشود که براي خوشبختي ساختن مسلمان کوشیده باشید .

*- خود شناسي یکي ازبزرگترین راهنماي خداشناسي است .

*- دوستي بامردم دانا بالاترین سعادت انسان است .

*- دنیا براي هدف دیگران افریده است نه براي خودش .

*- دروغ مگوئید تا اعتبار شما سقوط نگردد .

*- درین دنیا جز خاطرها چیزي دیگري نمي ماند چه خوب خواهد بود که این خاطره ها نیك باشد .

*- دروقت غضب شکیبائي وحلیم ودروقت بدي عفو وگذشت .

*- درهیچ مؤمن این دوخصلت جمع نمیشود بخل وخلق بد .

*- دانش طلا است وعمل جلاي ان است .

*- دنیا مثلي گلي است که گلبرگ هایش خیالي وخارهایش حقیقي است .

*- دروغ مادر فساد است .

*- درجواني وقت خودرا تلف مکن که محتاج مرد خسیس نشوید .

*- دوهرجاکه باشید گل بکارید که بیش روي تان به گلستان مبدل شود خارمکارید که فردا درپاي تان فرو رفت .

گرداورنده م . طاهر « و سنا تبزي

## ماسره دکفن پیسي نه وي

شیرمحمد کاکاسره په پیښورکی آشنا شوم ، له وطن نه دري کاله مخکي رامهاجرشوی دی د پنځوس شپیتو کلونو سړی دی که څه هم چي سن یې زیات دئ خو په سر اوږیره کي یې سپین تارونه لږدي جگه ونه اوجذابه څېره یې ده ډیر خوش خلقه اومجلسي سړی دئ اوډیری خوږی خبری کوی . که یوځل له چاسره مجلس وکړی نوزړه به یې تری ونشي چي تري ولاړشي له ما سره یې ډیره ښه جوړه ده هروخت مي چي ووینی نوډیرخند راسره ولاړوی او د زړه خواله راسره کوی کله ددی ځای اوکله د جبهي خبری کوی داځای یې چندان نه خوښیږي د جبهي اوجهاد خبری ډیرې ښی پری لگیږی ماته هروخت وایی کاشکی چي په کورکی می کوم مشرزوی وای چي په واده زړه جهاد ته تللی وای او هم هلته اوسیدلای اود مجاهدینو خدمت می کولای ، شیرمحمد اکاماته دخپل ژوند ټوله قصه کړیده مشرزوی یې چي تردولسم ټولگی پوری یې درس لوستی ؤ لس کال وړاندی د کابل د رژیم د جاسوسانو لخوا په تیمه شپه کی له کوره وویستل شو اوتراوسه پوری یې مړی ژوندی ورك دی دوهم زوی یې چي په لسم ټولگی کی وو سوونځی یې پری ښود اوله مجاهدینو سره گډ شو پوره دری کاله یې ښه جهاد وکړ خو دوه کاله مخکي له دښمن سره په مخامخ جگړه کی شهید شو .

ده په خپله ترڅوارلسم ټولگی پوری درس لوستی‌بود پوهنتي په وزارت کی مامور ؤ - خپله شپی ورځی یې ډیری په احتیاط تیرولی څو واره اخطارونه ورکړشول چي له مجاهدینو سره خپلی اړیکی پری کړه کنه زندان ته به کش کړای شی چاره یې نه وه ځکه چي د یوه زوی مړی اوژوندی یې ورك ؤ اوبل په جبهه کی ؤ د یوه د پیداکیدو لپاره اودبل یوه د جبهي د خرڅ لپاره یې باید څه برابرکړی وای ناچاره وو چي خپل ماموریت ته ادامه ورکړی - خوکله چي دخپل مشرزوی له بابته ناامید شو اوبل زوی یې په جبهه کی شهید شو په دفتر اوماموریت کی یې طاقت ونه کړای شو دخپلي میرمن ، دری لوڼو اودوه کوچنیو زامنو سره د پاکستان په لور راوخوځید اودخپلو ځوانو اوگلالیو زامنو دفراق په اورکی سوی زړه د پیښور په سره اوسوزونکی دښته کی یې واړول شپی ورځی تیریدی اوشیرمحمد اکا د خپلو نورو مهاجرو خوېندو ورونو په څير د مهاجرینو د یوکمپ په یوه غنډه‌کی له خپلو ماشومانو سره شپی سبا کولی .

یوه هفته مخکی می د یوه ډاکتر د معاینی خانی مخی ته ولیده چي یوماشوم یې په غیږ کی دئ سلام می ورکړ اوغږمی پری وکړ په الوتی څېره یې راته وکتل له روغبړنه وروسته یې راته وویل چي لڼوری می دوه هفتی کیږی ناروغ دی - دی ملاریا نیولی ؤ خو مونږ پری پوه نه شو ملاریایی دوامداره شوی ده اوس محرقی هم نیولی دی - دوامی ورته واخیسته خدای خبر چي څنگه به شی ماورته وویل غم مه کوه خدای لوی دی انشاء الله چي روغ به شی . دواړه په موټرکی کیناستو اود کورپه لور را روان شو زمونږ کوروته په یوه کوڅه کی دی خوزه د کوڅی په سری سرکی او دی د کوڅی په وروستی برخه کی پروت دی .

هاغه بله ورځ چي د ماسپښین دوه بجی وی اوله ماموریته د کور په لور راروان وم کله چي کوڅی ته راورسیدم نو ومی لیدل چي د شیرمحمد اکا د کور مخی ته ډیرخلك راغونډ شوی « واوره اوژاړه ، ځوانان ، ښځی اوناریته دده د کور په لور روان وو زه هم ورغلم ترڅو وگورم چي څه خبره ده کله چي ورووسیدم نوپوه شوم چي د شیرمحمد اکا زوی د محرقی له مرضه ندی روغ شوی او له دنیا نه یې د تل لپاره سترگی پټی کړیدی . د شیرمحمد اکا لڅه نږدی دوستان نه وو په کورکی یې بوالځی دری لوڼی اویو ووړکی زوی پاتی ؤ په خپله هم په کورکی نه وو چا وویل چه یو ساعت وړاندی بازارته لاړ ترڅو د کفن لپاره تو‌ته راوړی خو ډیر ځنډیې‌وشو - ټول یې د کور مخی ته ولاړ ووڼیم ساعت نورهم تیرشو خود شیرمحمد اکا هیڅ پته ونه لگیده‌د ماسپښین دری بجی وی اوخبره غلورو بجوته ورسیده .

نورگل اکا چي یو سپین ږیری اود کوځی مشر وو نو وی ویل هلکو ناوخته کیږي د مازدیگر د لمانځه وخت دئ د جنازی بند ویست په کاردئ اودوو تنو ځوانانو ته یې وویل هلکو په منډه لاړشی او وگوری چي شیرمحمد څه شو ، خدای دی خیرکړی چي بیچاره په کوم بله پیښه نه وی اوښتی - هلکان له پنځلس شل دقیقو وروسته بیرته راوگرځیدل خود شیرمحمد اکا یې څه پته ونه لگوله - نورگل اکا چي د هلکانو خبره واوریده نو له خپل جیبه یې دسلوروپیونوټ راوویست او یوه ته یې ورکړ چي زر لاړشئ اوله بازاره د کفن لپاره سان راوړی - هلك په منډه بازارته لاړ او ډیر زر بیرته راوگرځید تکه یې په کورکی ورکړه - پدی لړکی پنځلس شل دقیقي نوری هم تیری شوی

خو شیرمحمد رانغی د مازدیگر لمر په لویدو وو نورگل اکا وویل هلکانو جنازه راواخلی چي ناوخته کیږي ځوکسان کورته ورننوتل د شیرمحمد اکا د زوی جنازه یې دمور اوخویندودچیغواو کریکو له مینځه راجگه کړه اود هدیری په لوری وخوځوله کله چي خلك هدیری ته ورسیدل نو د قبری هم چا بند ویست نه وو کړی ځوتنو ځوانانو بیلونه اوکلنگونه راواخیستل اودقبر په کیندلو یې پیل وکړ لمریوت د مابنام دلمانځه وخت رانږدی شو آزانونه وشول له جنازی سره ټولو راغلو کسانو خپل لمونځونه د هدیری په خواکی اداکړل کله چي له لمانځه راوگرځیدل نو دهلك قبر تیاشوی وو پرجنازه یې لمونځ وکړ اوپداسی حال کی یې نورو خاوروته بنکته کړ چي د پلاریې لاپته نه وه لگیدلی د شیرمحمد اکا په ځوی باندی یې توری خاوری واړولی پرقبر باندی دعاوشوه خلك ټول د خپلو کورونو په لور راوگرځیدل خوداسی کوم څوك نه وو چي د شیرمحمد دروازه خلاصه کړی اودغم لړلی میرمن په تورکرتوکر زړه یې پټی کیږدی یو خوا د زوی مرگ اوبل لوری ته د شیرمحمد یې درکی داسی یولوی غم ؤ چي د میرمن اولوڼو په زړه یې لکه یولوی غر پروت ؤ په کورکی یې چوپه چوپتیا وه د ټولو اوښکی او واتنی ټینبدلی وی نه پوهیدل چه څه وکړی اوپه کومه خوا لاړشي - په همدی چرتونو کی ډوپ ؤ چي د حویلی دروزاه ووهل شوه کله چي دده لس کلنه لور دروازی ته ورغله اوپوښتنه یې وکړه چي څوك یې توهغه ورته وویل لورکی پلاردی یم ورخلاص کړه .

هوا شیرمحمد اکا وو هغه راغلی خو پدی نه پوهیده چي ځوی یې څنگه اوپه کوم اړخ خاورو‌ته وسپارل شو ، چا قبرته ښکته کړ یې کفنه اوکه له کفن سره -

خوکله چي میرمنی یې تری وپوښتل چي څه شوی اوچیری ولاړی - ده په ځواب کی صرف دومره وویل چي دکفن پیسی راسره نه وې له مجبوری می ځان لادرکه کړی ؤ .

## موقف وطرح مشترک...

شده حیثیت سیاسي واجتماعي خلق وپرچم و ...... را اعاده خواهد کرد .

وازهمه مهمتر آنانیکه شرعاً حق زندگي را ندارند درحق تعیین سرنوشت کشور سهیم خواهند شد .

ج : آیا این انتخابات درمدت یکسال ممکن خواهد بود درحالیکه تأمین امنیت واستقرار درکشور به سالها ضرورت دارد ، اگر امنیت واستقرار موجود نباشد انتخابات چطور برگذارخواهد شد ؟

د : این انتخابات بین احزاب سیاسي نه - بلکه بین لشکرهاي سیاسي صورت میگیرد - آیا حکومت موقت درصورت لزوم انتخابات ، بخاطر تأمین امنیت ونظارت مناسب برعملیه ، انتخابات وجلوگیري ازکشمکش هاي شدید وخطرناك بخواستن قواي بین المللي وادار ، نخواهد شد ؟

هـ : بالفرض والتقدیر اگر این انتخابات مؤفقانه بسر رسید درآنجا معلومدار است که همه کامیاب نمیشوند تاهمه باز درشوراي قیادي عضویت گرفته وکتل قیادت کشور شوند بلکه یك نفرشان کامیاب خواهد شد - برادران دیگر که مؤفق نشده اند ، درصورتیکه براي یکسال ویك دوره، موقت یکدیگر خودرا فعلاً قبول کرده نمیتوانند ، درآن صورت براي یکدوره، پنج ساله وشش ساله چطور بیکدیگر تن خواهند داد ؟

**بنظرما طرح مناسب وشرعي وبرابر به جهاد وقرباني هاي ملت مؤمن ما این است که :**

یك شوراي حد اقل پنجصد نفري که پنجاه درصد آن ازقوماندانان ورزیده، جهاد باشد مطابق مواصفات اهل عقد وحل ساخته شود و باین شوري که نماینده یك ملیون وششصد هزار نفر قربانیان جهاد است ، صلاحیت داده شود تا درمورد حکومت موقت ودیگر مسایل عمده وسرنوشت ساز مربوط به جهاد وکشور تصمیم بگیرد . که بدینصورت نه تنها نظر ورأي ملت درقضایاي کشورشان دخیل میگردد ونه تنها به کسانیکه در راه آزادي کشور به جهاد مقدس خویش ادامه داده و پاسداري سنگرحق را نموده اند ، قدرداني صورت میگیرد - بلکه جهاد ما هم ازضایع شدن وقرباني شدن اختلافات چند تن محدود وازبیراهه رفتن مسیر آن نجات خواهد یافت .

واگر این کار را برادران فعلاً مشکل میدانند درحالیکه هیچ مشکلاتي هم ندارد - بیایند شوراي مشورتي را یکبار دیگر بخواهند و برایش اجازه دهند تا تصمیم بگیرد و این کار یك هفته را دربرنخواهد گرفت .

و اگر این کاررا هم نمیتوانند ، به یك تن ازمجاهدین براي یك دوره، دوساله اتفاق نمایند که درینصورت ماید تفاهم هم حاضر هستیم ومیتوانیم بعضي نامهارا یاد کنیم ، واگر به تفاهم ممکن نباشد شوراهاي اجرائیه تنظیم هاي هفتگانه باهم بنشینند وازشخصیت هاي جهادي دیگر هم به یك تناسب معین چند تن درآن اشتراك نمایند وهرتنظیم - پنج ، پنج تن ازقوماندانان خود را نیز بیآورد ، اینها ازیکطرف رئیس حکومت موقت را با کابینه اش تعیین نموده و ازطرف دیگر تا آمدن شوراي اسلامي عقد وحل بحیث مجلس شوراي موقت در پهلوي حکومت قرارداشته باشند .

واگر باین هم برادران توافق ندارند ، ما ازخلال ماده، سوم فیصله شان نیز میتوانیم راه حلي را پیشنهاد کنیم که امکان اتحاد همگاني درآن دیده میشود و آن اینکه : از عبارت ماده چنین برمي آید که برادران به یك مجلس صد نفري توافق دارند اگر دونفرد دیگر را برآن علاوه نمائیم ! واگر تعداد را ازین عدد هم زیاد نمایند بسیار خوب خواهد شد ) ومطابق مواصفات اهل عقد وحل ازبین مجاهدین ومهاجرین به یك تناسب معین ، جور نموده واعضاي آنرا ازتزکیه بگذرانیم وبه این مجلس صلاحیت بدهیم تا مطابق اهداف ، مقاصد وآرمان هاي این جهاد مقدس ، درمورد قیادت ، تشکیل و هیکل یك حکومت موقت اسلامي تصمیم گرفته ودرمورد قضایاي عمده، دیگر نیز حق حل وفصل را داشته باشد . و این مجلس تا آمدن شوراي اسلامي عقد وحل دوام بکند . و پیشنهاد ما اینست که : درین یکصدو دونفر ، دوازده ، دوازده نفر به هرتنظیم ازتنظیم هاي هفتگانه داده شود و هجده نفر به سایر جهات جهادي دیگر . به شرطیکه دوثلث اعضاي معرفي شده را علماء و قوماندانان تشکیل بدهد .

درینجا تنظیمها حق دارند که ازبین مجاهدین ومهاجرین کمپ ها ، نفر را معرفي کنند و یا از افغانانیکه مقیم کشورهاي دیگر هستند ، هرکس هرچند که میخواهد ازسهم خود معرفي کند . لاکن درمورد همه شرط تزکیه ضرور است تا عناصر مشبوه و نامسلمان به شوري راه پیدا نکنند به هرصورت درتمام مجالس تصمیم گیري ودرتمام طرحها شرط ما اینست که قیادت حکومت باید ازبین مجاهدین مشهور وشناخته شده انتخاب گردد . واین حکومت به موافقه ورضایت اجانب موکول ومفوض نگردد .

ما این پیشنهادات رابه برادران غرض دریافت موافقه وجواب مثبت ودلسوزانه روان کردیم اگر تابیست وپنج دسمبر سال جاري جواب مثبت براي ما رسید خوب درغیر آن مطابق پیشنهاد وطرح اول خود به تشکیل شوراي پنجصد نفري که درمورد حکومت وسایر قضایاي عمده، دیگر تصمیم بگیرد اقدام مي نمائیم .

## داافغانستان داسلامي اتحاد مستحقو منسوبينوته دغازي په کمپ کښې دعضويت کارتونه وويشل شول

داتحاد اسلامي افغانستان منسوبینوته دعضویت دکارتونو دویشلو په لړ کښي تیره چهارشنبه دقوس په ۲۷ نیټه دتنظیم او تربیت دکمیسیون په اهتمام دغازي په کمپ کښي یوه درنده غونډه جوړه شوي وه .

غونډه دمناسبتین ددوه بحبو په شاوخواکښي دقرآن کریم دخومبارکو آیتونو په لوستلو سره پیل اوبیا داتحاد اسلامي افغانستان دزید بن حارث دمتوسطي دعلوم دیني استاذ مولوي صاحب سید محمد راغلو کسانو ته ویناً وکړه او دهغي په ترڅ کښي یې حاضرینو ته دغونډي اهداف او داسلامي تحریك په منسوبینو کښي دتعارف اوپیژندګلوي اصول بیان کړل ویې ویل : لـه دغو غونډونه هدف دمسلمانانو یوبل سره تعارف دي او دغه تعارف دټولو مسلمانانو او بالخصوص داسلامي تحریك منسوبینو ته ډیر ضرور دی ، محترم مولوي صاحب زیاته کړه هغه څوك چي دخداي ( ج ) په لاره کښي ددعوت لپاره گامونه پورته کړي اودغه گامونه یې في سبیل الله وي نو خداي ( ج ) به ده ته پوره پوره اجرونه ورکړي . محترم مولوي صاحب دافغانستان دقضیي دحل په هکله دخپلو خبرو په پاي کښي وویل :

موثر هیڅکله په افغانستان کښي دبیطرفه کسانو په لاس حکومت جوړول نه غواړو او دافغانستان راتلونکي حکومت به هغه څوك جوړوي چي دیارلس کاله یې په سنگر کښي دخداي (ج) درضا لپاره تیر کړي وي .

دغونډي په بله برخه کښي دزید بن حارث دمتوسطي سرمعلم محترم عبدالرحیم یوه علمي او ارزښتناکه ویناً وکړه اویه خپلو خبرو کښي یې ددیني درسي حلقاتو دجوړولو په هکله ټینگار وکړ ویې ویل : د دغو حلقاتو له جوړولو نه هدف اومقصد دمسلمانانو په مینځ کي اتفاق او اتحاد راوستل دي .

محترم سرمعلم صاحب پخپلو خبرو کښي حاضرینو ته وویل پام کوي چي ددښمنانو په چل اوفریب باندي ونه غولیږي ، روس او امریکا دواړه زمونږ ددین دښمنان دي او نه غواړي چي په افغانستان کښي دي یو اسلامي حکومت جوړشي .

دغونډي په ورستي برخه کښي دغونډي برخه والو ته داتحاد اسلامي افغانستان دعضویت کارتونه دغازي دکمپ دتعلیم او تربیي نماینده عبدالمجید او دغازي حوزي دفرع مدارس مسئول محمدقاسم لخوا وویشل شول . غونډه دمازدیگر په څلورنیمو بجو ددعایي په لوستلو سره پاي ته ورسیده .

## قبایل به په افغانستان کښی داسلامی حکومت ترجوړید و پوري دمجاهدینو مرسته کوی

دجماعت اسلامي امیر قاضي حسین احمد دشنبي په ورځ په خیبر ایجنسي «لنډي کوتل» کښي یوي شانداري غونډي ته وینا وکړه اودهغي په ترڅ کښي یې دافغانستان موضوع ته اشاره وکړه ویې ویل : اوس چي افغانستان دکمونیستان لخوا تباه شوي او جوماتونه ، مدرسي او دخلکو کورونه په کنډوالو بدل شوي نو تحجیب دافغانستان په راتلونکي کښي هیڅ رول نلري .

قاضي صاحب حسین احمد دظاهرشاه دبیا قدرت ته رسولو په هکله دخپلو حلکو هلي ځلي وغندلي او ویې ویل : همدا ظاهر شاه ؤ چي کمونیستان یې قدرت ته ورسول او هغوي سره یې ددوستي تار ټینگ او اوس دایټالیا دحکومت ترسیوري لاندي پټ دي نو داسي یوه شخص ته دافغانستان آینده حکومت نه شي سپارل کیداي اونه داحق ورته حاصل دي . دافغانستان دآینده حکومت دجوړیدو حق هغه څوك لري چي په جهاد کښي یې برخه اخیستي وي ، قوم یې رهبري کړي وي او دخپلو هلو ځلو په نتیجه کښي یې روس ته شکست ورکړي وي دجماعت اسلامي امیر په خپله ویناً کښي مجاهدینو ته داخواست وکړ چي په خپلو مینځو کښي دوحدت لاسونه سره ورکړي او دروس په شان امریکا هم دعبرتناك شکست سره مخامخ کړي .

ده وویل : امریکا اوس دوسیع البنیاده حکومت په پلمه افغانستان ته دظاهر شاه راوستل غواړي چي په دي توگه دافغانستان په راتلونکي کښي خپل رول ولوبوي خو اوس دافغانستان دجهاد میوه پخه شوي او دا به دهغه چا څولي ته پریوځي چي جهاد یې کړي دي .

قاضي حسین احمد دخپلو خبرو په یوه بله برخه کښي له قبایلو نه داتعهد واخیست چي دوي به په افغانستان کښي داسلامي حکومت تر اقامي پوري دمجاهدینو تنگه کوي اودهغوي دملاتړ نه به لاس نه اخلي .

## دکندهار په ولايت کښې ۹ تنه عسکر د اسلامي عفوی له مخی مجاهدينوته تسليم شول

د وارسیدلو رپوټونو له مخي ویل شویدي چي د کابل رژیم د کندهار د هوائي ډگر د قواو دیوي ستراتیژیکي پوستي ساتونکي د کندهار ولایت د هوائي ډگر په جنوب امنیتي کمربند مرد قلعه سیمه کي د دسمبر په ۱۷ نیټه یوصاحب منصب د ۹ تنو عسکرو سره یې له جگړې د اسلامي عفوي له مخي مجاهدینو ته تسلیم شویدي .

خبرځاي د رپوټ په حواله وائي چي تسلیم شوي عسکر د کابل د ظلم څخه په تنگ راغلي اود مسلمان وړتي څخه یې لاس اخیستي اوخپل اسلامي ژوند ئي دوباره پیل کړي دي .

د رپوټ مطابق د غو عسکرو له ځانه سره ۸ میله کلاشینکوفونه ، یوهاوان توپ ، یوه پیکا ماشیندار ، یوراکټ آر . پي . جي او یوه تمانچه اویوه پایه مخابره د نظامي اولوژستیکي مواد مجاهدینو ته تسلیم کړیدي .

خبرځاي زیاتوي چي مجاهدینو د دسمبر په پنځلسمه نیټه د زنده جان ولسوالي په غربي برخه کي د یوه مین د چاودلو په اثر د کابل رژیم د قواو یو عراده ټانك د سپرلیو سره د مینځه وړی دي .

همدارنگه د کندهار له ولایت څخه په یوبل رپوټ کي ویل شویدي چي مجاهدینو د کندهار اولشکرگاه په لویه لاره د میوند د کلاټند شوي ولسوالي په ملیشه پوستو باندي د دسمبر په پنځلسمه نیټه دراکټونو پواسطه یو تعرضي برید کښي د صبوري د سیمي د پاچا په نوم پوسته فتح کړیده .

خبرځاي وائي چي مجاهدینو پدي بریالي برید کښي د پوستي قوماندان باچانامي د پنځوتنو ملیشه ؤ سره بندیان نیولي اوهم په یو اندازه نظامي مهماتو او وسایلو ئي قبضه کړیده .

خبرځاي زیاتوي چي د کندهار د ښار په (چارسو) سیمه کي کوم چي د کابل رژیم د ملیشه قواو ستر مرکزدي د دسمبر په ۱۷ نیټه د دووکنډکوتو ترمینځ د اختلافاتو په سبب یو په بل باندي دراکټونو اوکلاشینکوفو پواسطه ناڅاپي حمله وکړه ، چي په نتیجه کي د دواړو خواو څخه ۷ تنه ملیشه وژل شوي ، اویوشمیر نورئي سخت ټپیان شویدي .

## لیتوانیا د١٤روسـی پوځیانودمحاکمی غوښتونکی شوه

لیتوانیا د١٤ روسي پوځیانو دمحاکمي غوښتونکي شوه

دلیتوانیا حکومت له روسي نه غوښتي دي چي هغوي دي هغه (۲۳) تنه پوځیان دلیتوانیا حکومت ته وسپاري ، کوم چي دلیتوانیا دآزادي په وخت دلیتوانیا په مرکزکي د ١٤ تنو په وژلو تورن دي .

دلیتوانیا یوه لوړرتبه مقام یوه مطبوعاتي کنفرانس ته وویل چي په نومورو (۲۳) پوځیانو باندي د١٤ تنو لیتوانیانو اوسیدونکو دوژلو ثبوت موجود دي او داهغه پوځیان دي چي د روان کال په جنوري کي دافراطي کمونیستانو په ناکامه کودتاه کي شریك ؤ چي په هغوي کي دپخواني شوروي ددفاع وزیر « یازوف » اودکي- جي - بي پخواني مشر « کروچوف » شامل دي .

## کویټ له عراق سره په گډه پوله کښي د برلین په شان دیوال جوړوي

کویټ له عراق سره په خپله سرحدي پوله کښي د «برلین» ددیوال په شان دفاعي زون جوړوي .

دغه مطلب یوي بریطانیایي ورځپاڼي «انډي پنډنټ» په خپل یوخپاره کړي رپوټ کښي لیکلي دي چي کویټ به د خلیج اوسعودي عربستان ترسرحدي ټکي پوري یوغزیدلي ۲۲۰ کیلومتري داسي دفاعي دیوال جوړوي چي په هغه کښي به برقي اشاري ، خند پرسونل ماینونه اتوماتیکي وسلي اوشارت ورکوونکي لینونه نصب شوي وي .

## پاکستان استقلال جمهوري فدراسیون روسیه وشش جمهوري آسیاي مرکزي رابه رسمیت شناخت

پاکستان استقلال جمهوري روسیه وشش جمهوري آسیاي مرکزي یعني ازبکستان ، قزاقستان ، تاجکستان ، ترکمنستان و آذربایجان رابه رسمیت شناخت .

بگزارش خبرگزاري فرانسه اکرم ذکي سکرتر وزارت امور خارجه پاکستان روز جمعه اعلان کرد این تصمیم درپایان سفر اخیر هیئت رسمي پاکستان به جمهوري هاي آسیاي مرکزي ، گرفته شده است .

## درنتیجه انتخابات...

برای کمیسیون تنظیم وتربیت مشرف عام تنظیم دانشجویان و شورای مرکزی جدید پیشکش نمودند .

متعاقباً محترم استاد محمد یاسر طی سخنرانی آموزنده تی شان شیوه کار وفعالیت ومشکلات تنظیمی دانشجویان مسلمان را بررسی نموده واشتراك کنندگان را متوجه مسئولیت های آینده شان نمود.

بعد از ادای نماز خفتن درحالیکه اعضای محترم شورای اجرائیه اتحاد اسلامی و اعضای محترم کمیسیون تنظیم وتربیت ومشرف عمومی تنظیم دانشجویان مسلمان حضورداشتند بخاطر تعین مسئولین واعضای شورای عامله جدید تنظیم دانشجویان مسلمان اوراق که توسط محترم قیام الدین «کشاف» رئیس دعوت وارشاد ورئیس کمیسیون تنظیم وتربیت امضاشده بود . بالای اعضای شورای مرکزی تنظیم دانشجویان مسلمان توزیع گردید که بشکل سری و مستقیم پروسه رأی گیری انجام یافت .

متعاقباً محترم کشاف بیانیه عالمانه وارزنده خویش را بسمع حاضرین مجلس رسانیده ومسئولیت ورسالت جوانان را دربرتو دین مقدس اسلام تشریح نمود . و حماسه های جوانان صدر اسلام که همه مشکلات وجانثاری هارا بخاطر اجر وپاداش اخرت خریدار بودند بیان داشت درحالیکه سخنان اموزنده اش دوساعت دوام کرد متقابلاً اشتراك کنندگان محفل با ریختاندن قطرات اشك خویش آنرا استقبال نمودند بعداً نتائج آراء بدست آمده بساعت ده وبیست دقیقه شب توسط محترم استاد محمد یاسر واعضای هیئت بحضورشورای اجرائیه اتحاد اسلامی وشورای مرکزی دانشجویان مسلمان قرائت شد .

برادران محترم که با اخذ اکثریت اراء توانستند عضویت شورای عامله تنظیم دانشجویان مسلمان را حاصل نمایند حسب ترتیب قرارذیل است :

۱- برادرمحترم عزت الله «مدقق»
۲- رر رر روح الله
۳- رر رر عبدالفتاح «شفیق»
٤- رر رر محمد یونس
٥- رر رر محمد نعیم «جلیلی»
٦- رر رر مجیب الله
۷- رر رر احمدضیا «غفوری»
۸- رر رر صدیق الله «همدرد»
۹- رر رر عبدالباقي «امین»
۱۰- رر رر محمد حسن

## دافغانستان دقضی

افغانستان کي د یو حقیقي نماینده اسلامي حکومت د جوړیدوپوري مجاهدینو سره په مکمله توگه اخلاقي سفارتي او سیاسي مرسته وکړي ، اویه افغانستان کي دي د هرهغه ترپوال سازش مخه ونیسي ، کوم چي هدف ئي دجهاد له ثمري نه د مجاهدینو محرومول ، د افغانستان په مسلمانانو باندي د لاس پوڅو عناصرو مسلطول اویا په دغه هیواد کښي یوځل بیا د لساني اوقبیلوي عصبیتونو راژوندي کول دي . اوغواړي له دغي لاري افغانستان تجزیه اوخداي مکړه په دویم لبنان یې بدل کړي .

په پریکړه کښي د نړۍ له اسلامي هیوادونو څخه غوښتل شوي ده چي هغوي دي ترهغي پوري د مجاهدینو ملاتړ ته دوام ورکړي ترڅو پوري چي په افغانستان کښي یو آزاد اواسلامي حکومت نه وي ټینگ شوي او هغوي دي په دي لړکښي د هیڅ یو بهرني ځواك تر اغیزي لاندي نه راځي اونه دي په دي هکله کمزوري ښیي .

همدارنګه په شوريٰ کښي د مجاهدینو مشرانوته خبرداري ورکړشوي چي د استعماري قوتونو له دسیسونه ځان خبرکړي د کومو چي هدف یې په قومیتونو اولساني بنسټونو باندي د افغانستان ویشل دي د امریکي سیاست پوهان اواطلاعاتي وسایل د پښتنو اوتاجکو ترمینځ اختلافاتوته پکي وهي اودخپل ددي روایتي پالیسي «تفرقه به انداز حکومت کن» بنودنه کوي چي ددي پالیسي مخکي ترمخکي مختیوي ضروري دي .

## دروس له ړنګیدو

پراځي د مالي وسایلو لرونکي دی ، بلکي له هغوي سره په افرادی قوت اوسایښسي پوهي برسیره پوځي طاقت هم موجود دی اوس ددي ضرورت دی چي ټول اسلامی هیوادونه خپل وسایل یوځای کړی او دوسلو جوړولو مشترکی کارخانی جوړی کړی .

پیرصاحب زیاته کړی ده چی : دغه مقصدته درسیدو لپاره داسلامی هیوادونو عواموته پکاردی چی د خپلو هیوادونو له کرسیونه د امریکی لاسپوڅی لیری کړی اوداسي خلك رامینځ ته کړی چی د اسلامی هیوادونو ترمینځ د اتحاد او یووالي غوښتونکی وي .

## دډې له نقشي...

جمهوریتونو د جمهور رئیس گورباچوف د راتلونکي په باب هم فیصله وکړه . هغه غونډي ته نه ؤ رابلل شوي ترغونډي وروسته په یوه خبري کنفرانس کښي ایلتسین وویل : مونږ د میخایل گورباچوف ډیراحترام کوو هغه قانون چي د ۱۹۱۷ میلادي کال راهیسي جاري دي چي ددي هیواد هرمشر به له عزل نه وروسته وژل کیده ، نه غواړو دوام پیداکړي .

## زدوخورد شدید...

بقرارگزارش ، تلاش حکومت کابل درفرونشاندن این برخوردها هاي بي اثر بوده وعبدالصمد والي سمنگان که متهم است جانب کیاني ها را درین حادثه گرفته است با دوتن از نگهبانانش ازسوي ملیشه هاي دوستم دستگیر وموتر وي به آتش کشیده شده است .

گزارش مي افزاید ، طي این برخورد هاي مسلحانه که از چهار روز است ادامه دارد عده ازملیشه هاي کیاني ازسمنگان فرار نموده ورئیس خاد ولایت نیز بکابل گریخته است .

لازم به تذکر است که درسایر ولایات افغانستان برسرتقسیم اموال غارت شده ازسوي ملیشه هاي مختلف رژیم اکثراً برخورد هاي مسلحانه رخ داده که موجب تلفات بین آنها وخسارات مالي زیاد آنان گردیده است.

## په لوګرولایت...

دلاسپوڅي رژیم یوتن عسکر ژوندي نیولي اوهم یې یومیل هاوان ، شپږمیله کلاشینکوفونه دیوي اندازي مهماتو سره دغنیمت په توگه تر لاسه کړي دي .

## مذاکرات بعضی...

انجنیر حکمتیار نیز با روتسکوي دیدار وگفتگو کرد و ضمن آن شوروي را متهم ساخت که به تعهد خود پابند نیست وتقریباً ۳۵ تا ٤٠ هزار افغانها که توسط ارتش روسي دستگیر گردیده بودند تا هنوز هم ازمرگ وزندگي آنها خبري نیست .

وي افزود که سردمداران مسکو فهرست زندانیان افغاني را منتشر سازد تا اسراي جنگي به وقت تبادله شود .

لازم به یاد آوري است که اتحاد اسلامي افغانستان وحزب اسلامي مولوي صاحب خالص قبلاً به این مذاکرات مقاطعه کرده بودند .

## مجاهدینو دهرات په

کلاشینکوفونه ، څلور میله (٤٠) ؤزي د زیاتي اندازي مهماتو اولوژستیکي موادو سره ولجه کړیدي .

همدارنگه مجاهدینو په نوموړي نیټه د هرات ولایت د زنده جان په ولسوالي کي د پل مالان په سیمه کي د رژیم پرقراوٌ برید وکړ چي دهغي په اثر دکابل رژیم له قواوٌنه یوتن ملیشه مړ ، اوه تنه ټپیان اوهم د رژیم د قواوٌ یوه دهشکه اویو میل زیکویك ماشیندار بیخي له مینځه تللي دي .

## اعلان مفقودي

یکنفر رفیع الله ولدنورالله مسکونه ولایت کندز بتاریخ ۱۳۷۰/۹/۲۰ مفقود گردیده کسیکه آنرا دیده و یا درباره آن معلومات داشته باشد به ادرس ذیل اطلاع بدهد .

دکان شیرفروشي نقشبندي واقع مهاجربازار ویا به تیلفون ٦٣٤٧٨ ریاست نظامي اتحاد و یا به تیلفون نمبر ٤٤٣١٨ زاهد تماس گرفته شود .

پتـــه :

پیښور - پاکستـــان

P.O.BOX---- 467